د۱۳٦۸ کال دمرغومي شپږمه دکمونيزم دماتي ، رسوايي اوذلت پيلامه اودافغانستان دمسلمان ولس دپاخه عزم لوړوارادو اوقوي ايمان دمظهر اغاز وو

هفته نامه
جهادهنداره
مراة الجهاد

PROPERTY OF ACKU

په گرديز کی دخاد رئيس او ٦ تنه عسکر منصبداران مجاهدينو ته تسليم شول

گرديز ،
دپکتيا ولايت څخه زمور خبريال رپوټ راکوی چی دپکتيا ولايت دمرکز گرديز خادبيوسول جگړن محمد عمر دمسلحرقراو څخه جگتورن معراج الدين اوبريدمن حضرت گل ، بريدمن عمران خان دخاد ديوشمير منسوبينواو ۹ تنو عسکرو سره دگرديز په شمال لويديزه دتيری کنلو په ستراتيژيکه يوه پوسته کی دقوس په ۲۱مه نيته دارتباط په اثر مجاهدينو ته تسليم شويدی .
خبريال وايی چی دپکتيا دخادبوسول جگړن محمدعمر دخپلو ملگرو په شمول مجاهدينو ته دتسليم کيدو لپاره دگرديز څخه دتيری کنډو ته تللی وو چی دپوستی دټول پرسونل او دوه تروپونو ، دوه ميله زيگويك ، ۹ ميله پيکا ماشيندارو ، دری ميله راکټ انداز ، ٦ميله کلشينکوفونو ، دری کره بين تورپکو ، دوه تمانچی دوه پايو مخابری اودوه عرادی موټربی مجاهدينو ته تسليم کړيدی .

دهرات په زنده جان کی دررژيم يوه قرارگاه او دری پوستی فتحه شوی

هرات :ميديا ديوه جهادی خبر ځای په حواله رپوټ ورکړی چی مجاهدينو دهريرود سيند او هرات اسلام قلعه دلويی لاری تر مينځ درژيم دمليشه وو يوه قرارگاه او دری پو ستی فتحه کړی دی .
رپوټ وايی پدغه بريد کی دررژيم يو شمير نظامی افسران او مليشه مړه شول ، او دمليشه وو يو مشهورقوماندان ده ۱۵۰ » تنو مليشه وو سر مجاهدينو ته تسليم شو ،مجاهدينو پدی بريد کی ۱۵۰ ميله کلاشينکوفونه ، شل ميله پی کاه ماشينداری ، دری هاوان توپونه ، څلور ميله راکټ ، او يومقدار نظامی مهمات په ولجه ونيول همدارنگه دررژيم څلور ټانکونه دمجاهدينو په بريد کی سوځيدلی .

دوهم کال ۱۵مه (پرله پسي ٦٧) گنه چهارشنبه د۱۳۷۰ هـ ش دجدي ٤مه ، د۱٤۱۲ هـ ق دجمادي الثاني ۱۹مه د۱۹۹۱ م کال ددسمبر۲٦مه

الحاج مولوی جلال الدين حقاني دالبنيان دخبری اژانس سره په مرکه کی :

له روسانو سره دخپل سرنوشت دټاکنی په باب خبری او مفاهمه له جهاد سره ظلم او دشهيدانو له وينو سره جفا ده

په دوهم مخ کي

په مسکو کی دتيلواو نفتو شديد کموالی

په ټول شوروی کی (۹۰)هوايی دگرونه له کاره غورځيدلی

په ۸ مخ کي

دافغانستان اسلامی اتحاد اود«مولوی صاحب خالص »اسلامی حزب ديوی گډی اعلاميی په ترځ کی :

ديوی پنځه سوه کسيزی مقتدری شوری دجوړيدو غوښتنه وکړه

په ۸ مخ کي

اتحاد شوروی بعد ازاين درجهان وجود نخواهد داشت

۱۱ جمهوريت معاهده کامينوليت راامضا نمودند

درصفحه ٦

انفجار بمب درايالت پنجاب هند

درشهرلدبانه که از شهرهای مهم صنعتی ايالت پنجاب هند به شمار می رود ، به اثر انفجار بمبی ۲۰ تن به هلاکت رسيدند و ۲۱ تن ديگر مجروح گرديدند .
به اساس گزارش يك اژانس خبری هند تاحال هيچ گروهی مسوليت اين انفجار را قبول نکرده .
بمب مذکور در موتر ويگن جابجا شده بود که درپهلوی يك پارك تفريحی انفجار نمود.

عمليات موفقانه مجاهدين درولسوالي زنده جان هرات

۲۰۰ تن از مليشه های رژيم همراه با فاميل های شان به مجاهدين پيوستند

درصفحه ۸

دچينی بی وزلو مسلمانانو سره د مرستی غوښتنه

بيکنك ، دقوس ۲۹ مه :
دچين دولت پخپل هيواد کی دميشته بی وزلو مسلمانانو لپاره دعربی هيوادونو څخه دمرستی غوښتنه کړيده.په خبر کی زياته شوی چی دچين دولت به ددغو مذهبی اړيکو څخه گټه واخلی اوعربی هيوادونه به په دی قانع کړی چی دچين غريبو مسلمانانو سره مرسته وکړی .
ديوی احصاييی له مخی په چين کی دمسلمانانو نفوس ۲۰ ميليونه دی چی دغربت اوافلاس نه دډك ژوند سره مخامخ دی.ددغو مسلمانانو زياته برخه دزنجيانگ په سيمه کی اوسيږی چی ددغه سيمی مساحت دفرانسی څخه دری چنده لوی دی.
په دی وروستيو کی دچين دولت دمنځنی آسيا دجمهوريتونو سره هم داقتصادی اړيکو په ټينگولو بوخت دی .

دعلماوو څخه دالحاج حقاني غوښتنه

دهيواد جنوبي محاذونو اتل قوماندان دخوست فاتح الحاج مولانا جلال الدين حقاني دالبنيان خبري اژانس سره دروانو سياسي او جهادي حالاتو په هکله ديوي مفصلي مرکي په ترځ کي له علماوو څخه غوښتي ترڅودبي ځايه اومغرضانه فتواگانو له ورکولو څخه ډډه وکړي.
الحاج حقاني ويلي دي چي ددغه ډول بي ځايه فتواگانو په ورکولو سره به په قوم اوولس کي دفتوا ورکوونکو حيثيت اومقام زيانمن شي .

زدخورد شديد بين مليشه های رژيم در سمنگان

ناکامی مقامات دولتی کابل در فروتشانی اين برخوردها

درصفحه (۸)

سرمقاله

خونړی تيری ـ شرميدلي ماتی

له نن څخه دولس کاله وړاندی په همدی شپو ورځوکي دالحاد او فساد په وړاندی زمونږ دمؤمنو خلکو هغه پاڅونونه چی په تش لاس پيل شوی وو په تدريج سره‌يې ديوسرتاسری اسلامی پاڅون بڼه غوره کړی وه.روسانو چی تردغه وخته خپلو لاسپوڅو ته هر ډول درني وسلي او وسيلي په واك کی ورکړی وي که هر څو يې ورته دوحشت او زور زياتي قوماندي صادره کړی وه او که هرڅو يې خپل شيطانی نيرنگونه په کار اچولی وو . دی يو هم دمؤمنو افغانانو دجهادی غورځنگ دتوپانی بهير مخه ونشوه نيولای او نه يی ددوی دنوکرانو پايښت اويری تضمين کړای شو .
له يوی خوا چی دروس دملحدو نوکرانو (خلقيانو اوپرچميانو) تر منځ دقدرت او څوکيو پرسر راولاړ شوی تضادونه له يوی ورځی څخه بلی ته مخ په زياتيدو وو اوبالاخره داسی پړاو ته هم رسيدلی وو چی ددوی رهبر تره کی دخپل وفادار شاگرد حفيظ الله امين له خوا دغلامانه اقتدار له څوکی راپرځولی شوی و .
داهغه وخت ؤ چی ټول هيواد دروس دنوکرانو لپاره داورتبی گرځيدلی ، ډيری وسلی او وسيلی يی دکاره لويدلی اوپوځی

په۷مخ کي

دکشمير پخوانی وزير اعلی فاروق عبدالله په خپل جرم اعتراف کوی:

ماوبښی زه به بيا داسی اشتباه نکوم

په ۸ مخ کي

په جارجيا کي يوځ په پاڅون لاس پوري کړ

دمشترك المنافع اداري څخه دگورباچوف ملاتړ

په ۷ مخ کي

درواغ ويل هم يو هنر دی

په اروپا کی ددرواغ ويلو کلني مسابقی

په۸ مخ کي

ديوه ماښام کيسه چې ماښامونه تری وزېږيدل!

په۳ مخ کي

دنجيب رژيم تربل هر وخت کمزوري اوډپاڼ په سر ولاړ دي ، فقط يوه متحده اوپريکنده گوزار ته اړتيالري

الحاج حقاني

جهاد هنداره

موسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني
دتاسیس کال : ۱۳٦۹ هـ ش

خونین ترین جنگ وابرومند ترین فتح

سمیع الله «تازه»

ملت ها درجریان پایه عرضه وجود گذاشتن وتکامل وبالاخره درطول حیات خویش دارای روزهای اند که ازان نسل های اینده بادرنظر داشت عواقب خوب ویابد ان حوادث بحیث روزهای مهم وتاریخی یاد می کنند ، ملت افغان که عمر درازپنج هزار ساله درساحه جغرافیایی کنونی خویش دارد تاریخ پر از حوادث غمناك داشته وهریك ان در زمان معین موجب خسارات جانی ومالی گشته است ، افغانها درطول تاریخ با فاتحین زیاد چون سکندر مقدونی ، چنگیز تیمور با امپراطوری های استعماری چون انگلیس وبالاخره اتحاد شوروی بخاطر حفظ ازادی واستقلال خویش مصاف داده اند وخاطره هر کدام این مقاومت ها که منتج به شکست مهاجمین شده است جز اوراق تاریخ پربار کشور وحتی از کار روائیها ورویداد های بزرگ جهان محسوب شده است.

هجوم ظالمانه اردوی سرخ اتحاد جماهیر شوروی بتاریخ ٦ جدی ۱۳۵۸ بامدرنترین سلاح برملت مسلمان افغانستان بخاطر اشغال ان ودست یابی به بحر هند نمونه یکی از بدترین تجاوز بر کشور مادرطول تاریخ میباشد.

روس ها که با وسیله قرار دادن کمونست های احزاب خلق وپرچم قبلا بتاریخ ۷ ثور ۱۳۵۷ کودتای خونین رادرافغانستان به پیروزی رسانیده وکمونست ها را جبرا بر سرنوشت مردم مسلمان ما حاکم گردانیده بودند باینگونه بخاطر اشغال نهایی افغانستان یك سلسله زمینه سازی های راجهت پیشروی به سوي ابهای گرم از پیش انجام داده بودند .

روس ها با گل الود ساختن اب میان کمونست های خلق وپرچم تحت عنوان (نجات انقلاب) با وسیله قرار دادن ببرك کارمل این جاسوس شناخته شده کی ، جی ، بی از هوا وزمین بر کشورما افغانستان هجوم اوردند هنگامیکه بعد از قتل حفیظ الله امین خاین ببرك کارمل را روسها بر کابل چون شاه شجاع برکرسی نشاندند این تغیر را تغیرات درونی حزب کمونست خواندند وببرك کارمل نیز که سوار بر تانك های روسی بکابل امده بر کرسی قبلا اماده شده تکیه زد انرا حق مسلم خویش ومداخله نظامی روسها بر افغانستان رانمونه پیوند انترناسیونالیزم باافغانستان وشوروی خواند .

قوای وحشی روسی که هدف مسلم شان اشغال کامل افغانستان وباپایگاه ساختن ان گام به پیش بسوی بحر هند بود در افغانستان بخاطر قلع وقمع مقاومت اصیل وسچه اسلامی مردم ما از هیچ گونه ظلم وتشدد خود داری نورزیدند ، کمونست های خلق وپرچم با قوای روسی یکجا انسان های مسلمان ، وطندوست ، عالم ، دانشمند ومنور را طبق پلان از قبل تهیه شده تحت بهانه های مقاومت در برابر کمونیزم همکاری ، با دشمنان کمونیزم (مسلمانان) بکام مرگ فرستادند ، توده های مسمان ما را بر علاوه کشتار جمعی با بمباردمان هوایی وزمینی بصورت کتلوی به شهادت رسانیده دهات واراضی زراعتی وبند وانها را به ویرانه مبدل ساختند شعار کمونستان داخلی وخارجی در ان زمان این بود انهای که با دشمنان کمونیزم همدردی دارند باید ناگزیربه مهاجرت شوند.

کمونست ها این را چاره برای تصفیه دوست از دشمن و پروسه سریع تحکیم کمونیزم در افغانستان تشخیص داده بودند ولی انها کور خوانده بودند انها فراموش کرده بودند که افغانها صرف تقریبا شصت سال قبل از ان انگلیسها راکه مانند روسها با سلاح عصری به قصد اشغال افغانستان امده بودند بادستان خالی شکست دادند وان سلاح راکه ملت ما علیه انگلیسها بکار برده بودامروزنیز بدست داشت وان سلاح عقیده وایمان است .

بقیه درصفحه۷

له روسانو سره دخپل سرنوشت دټاکنې په باب خبری او مفاهمه له جهاد سره ظلم او دشهیدانو له وینو سره جفا ده

اسلام اباد ته دروسی فدراسیون جمهور رئیس لومړی مرستیال دراتګ اودهغه په وړاندی دجهادی ځواکونو دمختلفو دریځونو ، دجنوری له پیلّه په مجاهدینو اودکابل په رژیم دوسلو دبندیدو په ګردیز کی دروان عسکری حالت دقیادی شوری دتشکیل اوهم دوروستیو سیاسی انکشافاتو په اړوند دالبنیان خبري اژانس دقوس په ۳۰ مه دپیاوړی قوماندان اوعالم الحاج مولوی جلال الدین حقانی سره ځانګړی مرکه کړی چی مهم ټکی یی په لاندی ډول وړاندی کیږی.

پوښتنه : دبوریس یالتسین لومړی مرستیال الګزندر روتسکوی نن شپه اسلام آباد ته راورسید ترڅوافغانستان دقضیی دحل په هکله دپاکستانی مقاماتو او جهادی مشرانو سره وګوری پدی رابطه ستاسو نظر څه دی؟

ځواب :بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم اما بعد :

دخپل سرنوشت دټاکنی اودراتلونکی مؤقت حکومت په باب له روسانو سره صلاح مشوره اوله هغوی څخه نظر اخیستل دجهاد سره ظلم اودشهیدانو له وینو اودکونډو اویتیمانو له اوښکو سره ستره جفا ده روسانو زموږ ملك په کنډوالو بدل کړی اوپه لکونو بی ګناه مسلمانان یی وژلی اواوس یی هم پنجی زموږ دوروڼو او خویندو په وینو ککړی دی څکه نو له دوی سره هر ډول موافقه او پریکړه زموږ له نظره رداودمنلو وړنده .

پوښتنه : دجنوری لومړی تاریخ ته فقطنه ورځی پاتی دی له کوم څخه وروسته به چی امریکا په مجاهدینو او روسان دکابل په رژیم باندی وسلی بندی کړی څه فکر

دخپل سرنوشت دټاکني او راتلونکو موقت حکومت په باب له روسانو سره صلاح مشوره له هغوي څخه نظر اخیستل دجهاد سره ظلم اودشهیدانو له وینو اودکونډو اویتیمانو له اوښکو سره ستره جفا ده

کوی دروسانو لخوا به دغه موافقتنامه رعایت شی اوهم داچی دوسلی بندیز به په مجاهدینو باندی څومره منفی اثر وغورځوی ؟

ځواب : له کومی ورځی راهیسی چی دروسی امپراطوری زوال دمجاهدینو په لاس پیل شو ، له همغی ورځی امریکایان ددی جهاد څخه ستړی اوبی زاره دی اودری میاشتی کیږی چی په موږ باندی هر ډول عسکری کومکونه بند شوی دی پاتی

کړی ، ملګری ملتونه که په رښتیا سره په افغانستان کی دسولی تامین غواړی نوپه لومړی ګام کی دی ددغه نړیوال سازمان څخه دنجیب رژیم دیپلوماتیك هیئت وشړی .

عجیب منطق دی چی صدام حسین یی دشپږو میاشتو لپاره دکویټ دهیواد په نیولو سره چی دخوست دلوی ولسوالی څخه یی مساحه زیاته نده دجنګ مجرم په صفت اعلان اودټولی بربادی

دروس خبره شوه نو هغوی خو دادی اوس دنوروو په دستر خوانو خیرات خوړولو ته ګونډی وهلی هغوی خپل ملت په خیټه نشی مړولای نوله نجیب سره به څه کمك وکړی ؟ البته هغه وسلی چی ددوی په ډیپوګانو کی انبار پرتی دی دهغی په راالیږلو به هم قادر نشی اوددی خبری قوی امکان شته چی په نږدی راتلونکی کی به دغه وسلی دوی پخپل منځی شخړو اونښتو کی یودبل پرضد استعمال کړی .

پوښتنه : که امریکا اودسیمی هیوادونه دملګرو ملتونو دپنځه فقره ایز پلان دمنلو لپاره په مجاهدینو باندی فشار راوړی نو دیوه مهم جهادی قوماندان په صفت به ستاسو عکس العمل څه وی؟

ځواب : که موږ داسی فشارونو ته سرټیټولای نوله روسانو سره به مو هیڅکله هم جنګ ته زړه نه وو ښه

مسول وباله خوموږ چی له دیارلس کالو راپدیخوا دکابل دکمونستو رژیمونو په ضد جنګیږو بیا هم موږ له مجرمینو سره روغی جوړی ته اړکوی ، اوپدی مبهمه سیاسی فضا کی په موږ باندی ظالمانه فیصلی تحمیلوی .

ځواب : دژمی دسړو او درژیم دهوایی او راکټی حملو سره سره وضعه دمجاهدینو په ګټه ده او بلاناغه هره ورځ یو شمیر عسکر دخپلو وسلو سره مجاهدینو ته ځوك چی دګردیز په ګردچاپیره غونډیو او لارو باندی کنترول لری

له کومي ورځي راهیسي چي دروسي امپراطوري زوال دمجاهدینو په لاس پیل شو له همغـي ورځي امریکایان ددي جهاد څخه ستړي او بي زاره دي

پوښتنه : پداسی حال کی چی مجاهدین پخپل منځ کی په یوه طرحه هم متفق ندی اودوسلو بهیر هم وربانـدی ودریږی اوسیاسی فشارونه هم مخ په زیاتیدو وی ، نوایا تاسو اوس هم پدی عقیده یاست چی دافغانستان دقضیی حل په عسکری لحاظ ممکن دی؟

ځواب :هوکی زه دپخوا په څیر اوس هم په دی عقیده یم چی نجیب اودهغه لړزیدلی رژیم تربل هر وخت کمزوری اودپاڼ په سر ولاړ دی فقط یوه پریکنده او متحدانه ګوزار ته ضرورت دی ، خلقیانو اوپرچمیانو دکمونیزم په رنګیدو سره خپل روحیات بایللی اودبقا چانس یی له لاسه ورکړیدی .

پوښتنه : داعلان شوی قیادی شوری په هکله مو څه نظر دی ؟

ځواب : تیرو تجربو وښوده چی دقیادی شوری طرحه په سیاسی لحاظ ناکامه اوپه شرعی لحاظ ناقصه طرحه ده او موږ ته دمنلو وړنده .

پوښتنه : په ګردیز کی روانه عسکری وضعه څرنګه څیږی اوآیا تاسو دوروستیو عملیاتو له نتایجو څخه مطمین یاست

تسلیمیږی ، درژیم دافرادو مورال ډیر ټیټ دی اودګلم جم ملیشا اودهلمند ایله جاریان چی څه موده مخکی ګردیز ته راغلی وو اوس یی دجنګ له میدان څخه تیښته کړی ده انشاالله چی ګردیز بهږخوست په څیر دمجاهدینو په لاس کی ولویږی .

دمرکی په پای کی مولوی حقانی په علماو باندی غږ وکړچی دبی ځایه او مغرضانه فتو اګانو له صادرولو څخه ډډه وکړی ترڅو دقوم او ولس په منځ کی خپل مقام او حیثیت زیانمن نکړی .

پوښتنه : څه فکر کوی چی په مسلسل ډول له روسانو سره دخبرو اترو دمخالفت په صورت کی به تاسو،استاد سیاف ، او مولوی صاحب خالص په سیاسی ډګر کی ګوښه او منزوی نشی ؟

ځواب : داانګیزه صحیح نده چی موږ به دخپل دی اصولی دریځ په اساس دملت په متن کی تجرید او ګوښه شو بلکی هغه خلك به ددی مجاهد ولس په منځ کی منزوی شی چی هغوی دمرتدانو اوزندیقانو سره دګډ حکومت جوړولو په

«۷»مخ کی

دیوه ماښام کیسه چې ماښامونه تري وزیږیدل!

لیك اوژباړه :شفیقي

نن چې روس په خپل بل کړی اور کی لوخړه شو ، نن چی لـه نـړی نـه دیـوی مـردودی ایدیالوژی نخښی او علامی پـه ورانـیـدودی ، نـن چـی دکریملن دمانی برم اوپرتم تر خاورو لاندی شـو ، نن چی دلینن مجسمی له چوکوټو او پارکونونه یوه یوه راټولیږی ، نن چـی دپرونـی استـبداد دبـنـیـادګـروپـر مـجـسـمـو مسخری اوملنډی وهل کیږی دسـره ښـکـیـلاك ، سـری امپراتوری ، سری فلسفی ، اوسره بیرغ نخښی په سرو لمبو کی لوخړه شول ، اونن چی ګورباچوف پرونی دنړی ترټولو دستـر ځواکمـن او هیبتناك هیواد مشر ته دبی هیواده مشر لقب ورکول کیږی ، نن چی دنړی ترټولو پراخ هیواد اوترټولو سترکبرجن مـاتـیـږی ، نـړیـږی او رانسکوریږی نن چی دتاریخ ډیره ستره حادثه پیښیږی ، یو واحد ، مزبوط اوپیاوړی هیواد په یوه ګوذارپنځلس ټـوټـی کـیـږی ، دغـه حیرانوونکی جریان کومه تصادفی پیښه او ناخاپی تکی نه ده ، دهمدغی ستری حادثی پیل لاپخوا شوی و خو جهان ناخبره و ، هغه وخت چی دعصر مغرور ښکیلاك پر آمو پښه واړوله اودفاتحانو کورته ننوت ، هغه وخت چی دهندوکش اوبابا په ګرنګونو کی دجهاد تکبیر پورته شو همغه مهال ؤ چی دکمونیزم دطاغوتی نظریی زوال پیل شو ، په افغانستان کی دمجاهدتکبیر پر کریملین دنابودی زیری و ، نولکه هره حادثه په خپل وخت او مهال تکمیلیږی دغسی دکریملن داستبدادی امپراتوری دړنګیدو جریان هم دیارلس کاله وخت ونیو اودادی نن پرونی افغانستان کی جنګیدلی او زموږ دهیوادوالو قاتلان دخپل کور په ویر اخته دی ، پرون یی زموږ پرخاوره دوینو ، اوروڼو او ویرونو لوبه جوړه کړی وه خونن یی پخپل کاله دماتم او تباهی اوښان چو دی .

دادفتحو او ماتو ډرامه څه وړپیل شوه ؟

نوراځی چی پرافغانستان بـانـدی دروسانـو دیـرغـل دهمغو لومړیو شیبو دجریان کیسه پخپله دروس دویجاړی شوی هیبتناکی جاسوسی شبکی کا جی ،بی له یوه تن متقاعد افسر «تورن ویتامن مالشیوکی» له خولی واورو چی پخپله ددغه جریان شـاهـددی اولـه روسـی پوځیانو سره یو ځای یی پر حفیظ الله امین حمله کړی وه ، راځی دهغه ماښام کیسه واورو چی ماښامونه یی وزیږول ، دهغه ماښام کیسه چی زموږ پر هیواد په کلونو کلونو دایمی ماښام شو ، په همدغه دایمی ماښام کی بیا دتیارو ترلمن لاندی دکیسو او حادثو تسلسل روان و چی بالاخره دعصر ستر طاغوتی بت رانسکور او زموږ مجاهد ولس دشپی له تل نه بریمن راووت دهغه ورځی په هیله چی پر هیواد مو داسلامی نظام روڼ لمر راختلی وی او دتـیـاروا وتـرورلـیـو دعاملانوتختونه دتل لپاره چپه وی .

***

په شوروی اتحادکی دننه به دنـوی کـال دراتـګ راتـګ خـبـری وی اودنـوی کـال هرماښام غیر معمولی غوندی وی ، موږ ته به دکابل راډیو دنشراتو یو مختصر خبری ګذارش هره ورځ اوریدل کیده اوله دی نه راته معلومه شوه چی دافغانستان حکومت له مـوږ نـه دپوځـی مـرسـتـی غـوښـتـنـه کـړیـده او دغـه غوښتنه منل شوی هم ده ، موږ دافغانستان له حالاتو څخه «پروداً» خبرولو ، دادا۱۹۷۹ م کال دوروستیو میاشتو خبره ده چی موږ به دکابل له وضعی څخه ددغه اخبار له لاری خبریدلو ، بیا موږ ته خبر راغی چی دحفیظ الله امین پر خلاف چی هغه اصلاً دسی آی ای مـزدور او جـاسـوس وځـنـو وطنپالوځواکونو قیام کړی دی چی مشر یی ببرك کارمل دی ، او بیا داخبر هم راغی چی جمهوررئیس «امین» ووژل شو .په روسیه کی دننه «پراودا» اخبار په افغانستان کی له هرډول لاسوهنی څخه انکار وکړ او خلکوته یی دا بـاور ورکاوه چـی دشـوروی حکومت به هیڅکله هم پوځی مداخله ونه کړی او موږ په دی اړه ډیری اعلامیی نشر هم کړی ، دروسیی ولس تـه لـه کـومـی بـلـی لاری نـه سـم خبرونه نه رسیدل اوهغوی له اصلی واقعیتونو نه ډیر لری ساتل کیدل ، هغوی دنوی کـال دجـشـن وروسـتـی ماښامونه په خوښیو لمانځل او هیڅوك هم نه وو چی له حقایقو نه یی خبر کړی .

څـوورځـی تـیـری شـوی دلومړی ځل لپاره ځنی اوازی خپری شوی او خلك وروورو پـه دی پـوهـیـدل چـی کـوم اطلاعات دوی ته ورکول کیږی اصل حقیقت ددی پر خلاف دی ، د ۱۹۸۰م کال په پسرلی کی مـاپـه کـابـل کـی ددغی

په شپږم مخ کې

> د« ایچ » حالت اعلان شو اوقوماندي ته منتظر تیارسي شو دقوماندان حکم ولوستل شو په هغي کي لیکل شوي وو چي حفیظ الله امین دسي آي اي غړي اودسرمایه داري کلك پلوي دي

دنجیب مزدور رژیم دباقي پاتی کیدو علت دجهادي تنظیمونو بي اتفاقي ده

په تیر پسي :

قاضي غلام محمد مخلص

مـجـاهـدیـن اوس دآزاد اسلامی افغانستان په درشل کی دی خو متاسفانه ددوه کالو څخه زیات تیر شول نه یواځی داچی په عمل کی هیڅ پرمختګ ونه شو بلکه دغو جهادی رهبرانو ټول مـجـاهـدیـن نـا امیده کړل دافغان جهاد مرستیالان او انـصـار وړونـه یـی هـك پـك اوحیران کړل دنړی والو پام یی دافغانستان له مسلی څخه بلی خواته وګرځاوه په بـیـن الـمـلـلـی سـطـحـه یـی دافغانستان مسله دهیرولو خواته کش کړه ، دهمدی کبله داستعمار اجنټانو ته دا پلمه پلاس ورغله چی دغه افغانی مـقـدس جـهـاد تـه دروس او امریکی پالیسی ووایئ او حـال دادی چـی دغـه دواړه اسـتـعـماری طـاقـتـونـه نـن دافغانـی مجاهدینو داسلامی حکومت دجوړیدلو په خلاف اوپه یوه لار روان دي دکشمیر دمـسـلـمـانـانـوقـاتـلـیـن (هندوستان) نن له دغو ناوړه حالاتو په استفادی سره دافغانستان دجهاد دښمنو دتس نس کولو لپاره لګیا دی دنجیب او غرب ته تښتیدلو افغانانو سره سازشونه کوی ، بلکه ټول کفری ځواکونه که غرب وی او که شـرق وی په افـغـانـسـتـان کـی داسـلامـی حـکـومـت دقـیـام پـه خـلاف سازشونه کوی ، اواسلامی نـړی داسـتـعـمـاری او استکباری ځواکونو دفریب اونیرنګ په رنګ رنګ چالونو کی نښتی اونفسی نفسی ناری وهی .

بلی خواته دروسی استعمار بریڅی اودمسلمانو افغانو قاتل نجیب داقتدار په کرسی نـاسـت دی بی لـه دی چـی دخپلی بدمرغی اوشومی آیندی فکر وکړی دجهادی قیادتونو دبی اتفاقی په نتیجه کی خپله منحوسه واکمنی محفوظلی ګڼی اوخپلو نوکر صفتواندیوالانو ته دا داډینه او تسلی ورکوی چی اوس نـو دبـی اتـفـاقـو مجاهدینو لاسونه ستاسو ګریوانونو ته درسیدوندی نو ځکه باید افغانی مجاهد داومـنـی اوښه یوه شـی چـی دافغانی جهادی قیادتونو بی اتفاقی داستعمار کامیابی او ددغه سپیڅلی او مقدس جهاد ناکامی ده .

په افغانستان کی وسیع البنیاده حکومت جوړول او غربی ډوله جمهوریت راوستل دکفری اولادینی استعمار بریالیتوب او دافغانی جهاد دناکامی په معنی ده ، غرب ته تښتیدلی افغانان چی په افغانی جهاد کی هیڅ برخه نـلـری ، اوپـخـپـلـه دجـهـاد مـجـرمـان دی او داسـی نـورو لادینه عناصرو ته دمجاهد افغانانو دسرنوشت اختیار ورکـول اوورسـپـارل دافـغـانـستان دمسلمان او مجاهد ملت په تعقل او جهاد پوری توقی اومسخری دی .

که دافغانستان خلك دنبی کریم صلی الله علیه وسلم پیروی وکړی نو باید یوه شی اودافـغـانـسـتـان پـخـوانیو حکومتونو څخه پند واخلی چی غرب ته تښتیدلی خلك هـمـغـه دپـخـوانـی حـکـومـت واکداران دي چی افغانستان یی دروسانو او کمونستانو په لاس کی ورکړ اوپخپله غرب ته وتښتیدل چی پدغه دیارلس کـلـن جـهـاد کـی لـه یـو نـیـم میلیون څخه زیات افغانان شهیدان شول خلك بی کوره شـول ، ښـځـی یـی کـونـډی شـوی ، اولادونه یی یتیمان شول نورو ملکونو ته مهاجر شول په دښتو او میارو کی په سختو تکلیفونو او ربړونو کی شـپـی او ورځـی تـیـروی او افـغـانـسـتـان دروسـانـو او کمونستانو دلاسه ړنګ شو ، بیا به څنګه عقل وی ، چی ددی ټولو سره سره یو ځل بیا هغه خلك دافغانستان دحکومت واکداران وګرځی خدای دی نکړی که شی نو بیا به دبل ځل لپاره دغه وطن فروشان افغانستان په چا خـرڅـوی او څـه خـرافـات اوفحشا په کی راولی ددی ټـولـو خـبـرو سـره افـغـانـی مجاهدین پدی پوه دی اودنبی کریم صلی الله علیه وسلم فرموده ده چی (مومن دیوی سـوری څـخـه دوه ځـلـه نـه چیچل کیږی) خدای تعالی دی وکړی چی مورد پخوانیو پـیـښـو پـه خـیـر دکـفـری ځواکونو ښکارنه شو اوپدی بنـاء دځـانـو سـره ژور فـکـر وکړو چی :

۱- دافـغـانـی جـهـاد هـدف اومقصد څه و؟ آیا افغانان مـطـمـئـین کیدای شی چی دافغانستان په راتلونکی حکومت کی به دمسلمانانو پت او عزت پاتی شی اوپه افـغـانـسـتـان کـی بـه واقـعـی اسلامی حکومت راشی چی دغرب اوشرق دتاثیر لاندی نه وی؟

۲- په نړی کی داستعماری ځواکونو ارادی دافغانستان په برخه څه دی ؟ اودهغوی په خلاف دجهادی تنظیمونو موقف څه دی ؟ اوڅه علاج ورسره شته دی او که څنګه ؟

۳- دنړی مسلمانانو چی زموږ دجهاد ملاتړ کړیدی اواوس یی زموږ دبی اتفاقی په اساس توجه ګرځیدلی ده هسی نه چی یوازی پاتی نه شو خدای ناخواسته زموږ جهاد دناکامی سره مخ نه شی؟

٤- آیا جهادی تنظیمونو او مجاهدینو پخپل دغه دیارلس کلن جهاد کی معلومه کړیده چی زموږ دوستان او دښمنان کوم او څوك دی ؟

٥- دافغانستان خلك څه غـواړی آزاد اواسـلامـی افغانستان غواړی او که آزاد خو لادینه افغانستان ؟

٦- دافغانانو بریالیتوب داسلام په حاکمیت کی دی او که دغربی ډوله جمهوریت په اصولو جوړ حکومت کی دی ؟

۷- آیا دافغانستان مسلمان مـلـت دمـوجـوده جـهـادی قیادتونو څخه اطمینان لری چی په افغانستان کی به دوی اسلامی حکومت راوستلای شی اوکه نه ؟ ځکه چی دوی پـه اوس وخـت کـی یـو بـل

په ٦ مخ کي

جهادي ادب

بشردښمنه ، نړي خوره ، سري خوربلاکه
ښه شولی رسوا شولی ، تباه شولی مخ تورشولی
تاوی نړی به پکی سیزم زه به یی سیل کوم
خوته په خپله لولپه په هغه اورشولی

تاچي يرغلگره دداړې لښکرې راوستي
زه دې هم خوله داسي ما تولی کړولی شم
توره چې له تيکی نه راوباسم په توره شپه
زه پرې سپين سحر دازادی راځولی شم

راغلی وو

عطاالله سندان

پرون می دکور خواته لوټ ماران راغلی وو
بل څوك نه ووقسم په خدای روسان راغلی وو
دوستی نه وه فریب و دمظلومو افغانانو
پوښتنی دهوسی ته سره لیوان راغلی وو
باغونه ، چمنونه او فصلونه می تباه شول
نادودی ناکردو ته می دخان راغلی وو
په ښه وسله سمبال و لوی طاقت دزمانی
تسخیر ته دهیواد می داوحشیان راغلی وو
بیړی می دژوندن په ډوبیدو ده سمندر کی
رودونه می داوښکو په گریوان راغلی وو
دسولی په نقاب کی دخپل شوم مرام لپاره
داځکه مجهز په ښه سامان راغلی وو

زه ولی مسلمان ...

خبره داده چی زه لاپه سویزرلینډ کی وم چی ځان می مسلمان وگاڼه .

کله چی جگړه ودریده د۱۹۱۸ په دسمبر کی زه بیرته خپل وطن ته ستون شوم په ۱۹۲۱ کی می دلندن پوهنتون دادبیاتو په څانگه کی ځان شامل کړ، زما یو مضمون عربی ژچی دهغی لپاره به کنگز کالج ته دلیکچر اوریدو لپاره تلم ، یوه ورځ دعربی استاد «دعراق مرحوم بیل شاه » دقران په باب وویل :

که پدی کتاب ستاسو عقیده وی او که نه خو داثابته خبره ده ده چی ډیر دلچسپ اودقدر وړ کتاب دی .

ماسمدستی ځواب ورکړ:

زه خو ددی کتاب په صداقت باورلرم .

زما پر ځواب استاد لومړی حیران شو اوبیا ډیر خوښ شو اوله لږ خبرو اترو وروسته یی دلته نږدی یوه جومات ته دراتگ بلنه راکړه ، زه هلته جومات ته ولاړم په لمانځه کی شریك شوم اوداسلام دتعلیماتو دزده کړی زیار می وویست ، زه به اکثرا وختونه بیا هغه جومات ته تلم تردی چی لوی الله (ج) زما سینه پراخه کړه اوبیالاخره می د۱۹۲۲ کال دجنوری په لومړی نیټه داسلام راوړو اعلان وکړ.

زما په ژوند کی ددی سپیڅلی بدلون نږدی نیمه پیړی تیره شوی ده الحمدلله چی زه په اسلام عملی او نظری یقین او عمل لرم .

ماولیدل چی دلوی الله قوت ، حکمت ، رحم او کرم انتها نه لری ، څومره چی سړی په دی هکله علم حاصلوی هومره دستر رب قدرتونه روښانه کیږی ، زه په دی باور یم چی دالله (ج) اطاعت ، ذکراویاداوله هغه (ج) سره مینه زموږ سرمایه . ویاړ اوداخرت توښه ده .

تکل

جنګونه اونګونه !!

دسیرشهریار لیکنه

داخاوره له داسی ډیرو پیښو سره اشنا ده ، داسی ډیری حادثی اوحماسی یی لیدلی اوزیږولی دی .

یرغلونه ، جنگونه ، ننگونه ، ویاړونه اوویرونه داهرڅه پکی تیر شوی لیدلی یی وو ویی هم لیدل اوبیا به یی هم وینی هر وخت !

ترڅوچی دانړی ودانه وی همدا خاوره به وی او همدا جنگونه اوننگونه! کله به لمبیږی اوکله به وچیږی ، میړونه به زیږوی ، اوویاړونه به زرغونوی ، خو دغلیم ناپاکه قدم به په ځان پری نږدی که هرڅومره سره پکی ویرونه او اورونه غاړه غړی شی .

هو ! زموږ دوطن خاوره دننگونو او میړانو خاوره ښه راته یاددی لکه دا اوس لکه داننۍ غرمه .

خوپه دی غرمه او هغی غرمه کی دځمکی اسمان فرق دی هغه په رښتیا ټکنده غرمه وه، همغه دویرونو او اورونو غرمه

په لړه شیبه کی دسرواو شنو لمبو او دتورو لوخړو تاو غرمه پخپله غیږه کی واخیسته داسی چی بیا ساه هم چانه شوه اخیستی دهری گټی اولوتی شنی ترخی لوخړی پورته شوی چیغی شوی او کوکی : سترگو کارپریښود نظرنه لگیده زوی او مور سره ورك شول .

په لړه شیبه کی کلی په بله واوښت ، دنیکو او پلرو دلاسو نخښی دهغوی داتلولیو یادگارونه برجونه او قلا گانی په ویرانو بدلی شوی ، نریدلی خړدیوالونه په غوښو او وینو ککړ شول ، دسویو غوښو بویونه دهر کوره پورته شول ، په کلی کی نه اوس گل ؤاونه بلبل ، دښته او چمن په وینو سره ؤگل هم سوی ؤ اوبلبل هم !

کلی زموږ په حال ویر کاوه او موږ دکلی .

کلی په بمونو او گولیو سوری سوری شوی ؤ کلی دمړیو اوزخمیانو دسترگی په شان ډك ؤ لږ ساعت پس چی توری لوخړی داسمان پلو وښتی دسرو لمبو په زړه دسرواوبو پر ځای سری تودی وینی توی شوی خوا یی سړه شوه نو دهرکوره دویر ساندی راپورته شوی دساندو او زگیرویو مقابله پیل شوه دزخمیانو زگیرویو او دمړو په حال دژوندیو ساندو خلکو ته دقیامت ورځ وړپه زړه کوله :

شپه راروانه وه دغمونو او دردونو ډکه شپه ، شپه هم نن دکلی اودکلی دخلکو په حال دومره غمجنه وه چی ټوله شپه یی اوښکی ونه دریدی دومره اوښکی یی وڅڅولی چی دکلی څخه یی ټولی وینی بیدیا ته وویستی .

بیا سحر شوخو کلی همغسی دردونو غمونو اوویرونو په سر اخیستی ؤ نه څوك دشپی په راتگ خبر شوی ؤ اونه یی په تگ کلی په غم کی ډوب ؤ خلك په غم کی ډوب ؤ هرڅه ویر ویر ؤ او ژړا ژړا .

له هره کوره یوه اودوه جنازی راووتی شل گوډ ړانده اوسوی راپاڅیدلی نه شول او روغو دجنازو دکټونو پسی منډی وهلی فضا ټوله ویرجنه او غمجنه وه ، وینی بهیدی ، اواوښکی څڅیدی خلك پخپله گناه او خطا نه پوهیدل چی گناه مو څه ده اوخطا مو څه ده ، موږ څه بد کړی ؤ بچیو مو څه بد کړی ؤکلی مو څه بد کړی ؤ اووطن مو څه بد کړی ؤولی رابانډی اورونه ووریدل اوولی بمونه ؟!!!

دلته لادویرڅپو موجونه وهل چی دپوری کلی څخه هم سری لمبی اوشنی لوخړی پورته شوی داجنازی لاهدیری ته نه وی رسیدلی چی هلته هم ویرونه او اورونه غاړه غړی شول ، هلته هم همدا حال ؤ یو له بله ورك ؤ دهر کور دیوالونه په وینو سره ؤ خلك دخپلی خطا څخه نه ؤ خبر بس ویرونه ؤ او اورونه !

داجنازی چی ښخی شوی نو هغه جنازی راورسیدی یوی شپی دیوه کلی په حال ژړل اوبلی دبل کلی هغه وینی هم دی بیدیا ته راوویستل شوی دواړو کلیو دخلکو وینی گډی

په ٥ مخ کي

دنورځلی

درحیمزی ژباړه

که څه هم تجارتی کاروان تراوسه د یر لری وو، خو دهغی دراتلو اوازه په ټوله مدینه منوره کی خپره شوی وه ، هر څوك مدینی منوری ته ددی کاروان دراتلو په انتظار وو، سوداگرو گومان درلود چی که دحضرت عثمان بن عفان (رض) څخه دغه مال وپیرو دی شی نوښه گټه به وکړی.

په مدینه منوره کی دغلی قحطی وه ، او ضرورتمند خلك په ښه قیمت ددی غلی (کومه چی حضرت عثمان (رض) راوړی وه) پیرودلو ته تیار وو ، دغه حالت دسوداگرو لپاره ډیر امید بښونکی وو ، هغوی تصمیم ونیوه چی دکاروان په لار به انتظار کوی ، او هلته به دحضرت عثمان (رض) سره دمال د پریودلو په هکله فیصله وکړی ، له همدی امله دوی دمدینی منوری څخه بهر دکاروان په انتظار کیناستل ، کله چی له لری څخه په دښته کی دوړی جگی شوی نو دټولو سترگی هماغی لوری ته واوښتی ، لږ وروسته په غله بار داوښانو یو قطار راښکاره شو او وروسته بیا په غله بار اوښان ددوی له مخی نه تیر شول ، سوداگر دحضرت عثمان (رض) خواته ورنژدی شول ، او ویی ویل : ایا تاسی داټول مال په یوه ځل خرڅول غواړی ؟

حضرت عثمان (رض) په بی نیازی سره ځواب ورکړ: «دغه مال دخرڅلاته لپاره راوړی».

یوه تاجر پوښتنه وکړه په څومره ؟

حضرت عثمان صاحب وپوښتل : «تاسی ووایی چی تاسی څومره گټه ورگولای شی» ؟

« زه ددوه چنده گټی ورکولو ته تیار یم «یوه تاجر ځواب ورکړ.

حضرت عثمان (رض) ورته وویل : زه دانه منم

څنگ ته ولاړ یوه بل سوداگر وویل :« زه دری برابره گټه ورکوم »

خو حضرت عثمان (رض) ځواب ورکړ «داهم زه نشم منلای» بل سوداگر وویل : که په څلوربرابره گټه یی ورکوی نو زه تیاریم .

حضرت عثمان (رض) وپوښتل : تردی هم زیاته گټه څوك ورکوی ؟

دیوی لحظی لپاره ټول سوداگر غلی شول اوبیا یوه تن وویل : څومره گټه چی موږ غواړو تاسی ته در کړو شاید دی ته هم څوك تیار نه شی ، تاسی بی ژر تر ژره خرڅ کړی ، که نه نو بیا به پښیمانه شی .

حضرت عثمان (رض) فوراً ځواب ورکړ ، ماته تردی دډیری گټی وړاندیز شوی ، له دی امله پدی کی دپښیمانی هیڅ خبره نشته ټولو سوداگرو لومړی دحضرت عثمان لوری ته اوبیا یو بل ته حیران حیران وکتل .

یوه تن له حضرت عثمان (رض) څخه وپوښتل « جنابه تاسی ته دڅومره گټی وړاندیز شوی ، ترڅو موږ هم خپله خبره برابره کړو؟

حضرت عثمان (رض) ځواب ورکړ : ماته اوس دلس برابره گټی وړاندیز شوی دی.

سوداگرو وویل : موږ پدی گټه باندی دغه غله نشو پیرودلای ، خو تاسی دومره ووایی چی دا اخیستونکی څوك دی ، چی په دومره گټه باندی له تاسی څخه دغه مال اخلی ؟

حضرت عثمان (رض) ځواب ورکړ ، اللة تعالی (ج) اوویی فرمایل : تاسی نه پوهیږی چی دخدای (ج) په لاره کی مال ورکوونکو ته الله تعالی (ج) پدی دنیا کی دلس برابره اوپه اخرت کی داویا برابره څخه هم دزیاتی گټی زیری ورکړی ، ټولو په ډیر حیرت دحضرت عثمان (رض) لوری ته وکتل اوحضرت عثمان (رض) ټولو غله په بی وزلو او وږو خلکو کی وړیا تقسیم کړه .

روسان دخپلو بندیانو خلاصول غواړی نه دافغانستان دقضیی حل

د س ، م د ، لیکنه

له یوی خوا لکه څنګه چی تیره میاشت په مسکو کی دمجاهدینو دهیئت او روسانو تر منځ دخبرو اترو په پای کی پریکړه شوی وه چی دروسانواومجاهدینو دهیئتونو ترمنځ دخبرو اترو دویم پړاو به دپاکستان په مرکزاسلام اباد اویا دافغانستان په ازادو سیمو کی سرته رسیږی .

له بلی خوا په دی هکله چی له روسانو سره دخبرو اترو په دغه راتلونکی پړاو کی باید هغه جهادی ځواکونه هم برخه واخلی په لومړی پړاو کی یی له برخی اخیستنی نه ډډه کړی وه اوددغسی خبرو اترو لپاره یی ځانګړی ، ځانګړی وړاندیزونه او غوښتنی لرلی ، هلی ځلی روانی وی .

ددی کارلپاره دجهادی ځواکونو ددواړو خواو تر منځ ځانګړی اوډله ایز تماسونه ونیول شول ، پټی او ښکاره لیدنی کتنی وشوی اوبالاخره څو ورځی دمخه دافغانستان داسلامی حزب مشر حکمتیارصاحب داومنله چی نوموړی به دخبرو په راتلونکی پړاو کی برخه واخلی ، خودافغانستان داسلامی حزب دبلې تنظیم مشرمحترم مولوی صاحب خالص اوداتحاد اسلامی مشر استاد سیاف هماغسی پر خپل دریځ ثابت پاتی شول .

ځنی جهادی قیادتونه او ځواکونه ددی لپاره چی له یوی خوا دروانی عیسوی میاشتی په وروستیو کی دروسی دفدراسیون دجمهور رئیس یلتسین دلومړی مرستیال روتسکوی په مشری دروسانو یو هیئت له مجاهدینو سره دخبرو اترو ددوهم پړاو دسرته رسولو لپاره اسلام اباد ته راروان ؤ ، په خبرو اترو کی دټولو جهادی ځواکونو داستازیو دګډون اودخبرو اترو داجندا دټاکنی اوترتیب لپاره ځان چمتو کاوه ، نوله بلی خوا یی څو ورځی دمخه دعبوری حکومت دتشکیل اودهغی دقیادت دټاکنی لپاره لومړی دقیادی شورا اوبیا دسل کسیزی شورا بیلابیلی طرحی وړاندی کړی ، چی له دواړو سره دځینو جهادی ځواکونو له خوا چی ددغو طرحو دتصویب اوپریکړو ، په غونډو کی یی برخه نه درلوده ، په ډاګه مخالفت وښودل شو.

> روتسکوي په دی لړ کی له استاد برهان الدین ربانی ، انجینر حکمتیار سره ځانګړی ځانګړی اوله حضرت صبغت الله مجددی ، پیر سید احمد ګیلانی ، مولوی محمد نبی محمدی ، قاضی محمد امین وقاد ، ایت الله محسنی ، ایت الله صادقی ، مولوی سمیع الله او مولوی منصور سره ډله ایزی لیدنی کتنی وکړی

دخپرو شویو څرګندونو له مخی دروسانو دهیئت سفر اوس دځینو عواملو له مخی دڅه وخت لپاره ځنډیده خودروسی فدراسیون مشر یلتسین لومړی مرستیال روتسکوی دتیری پنجشنبی په ورځ اسلام اباد ته سفر وکړ اوظاهرا یی دخپل سفر هدف دپاکستان دجمهور رئیس غلام اسحق خان اوصدراعظم نوازشریف او ضمناً دمجاهدینو له ځینو مشرانو سره لیدنه کتنه وښودله .

چی نوموړی په دی لړ کی له استاد برهان الدین ربانی ، انجینر حکمتیار سره ځانګړی ځانګړی اوله حضرت صبغت الله مجددی ، پیر سید احمد ګیلانی ، مولوی محمد نبی محمدی ، قاضی محمد امین وقاد ، ایت الله محسنی ، ایت الله صادقی ، مولوی سمیع الله او مولوی منصور سره ډله ایزی لیدنی کتنی وکړی ، اولکه چی څرګنده شوی ده نوموړی دلیدنو کتنو په دوران کی پرته له دی چی دافغانستان دقضیی دحل په اړه خپل رښتینتوب ثابت کړی ، دروسی بندیانو دخلاصون غوښتنه یی کوله ، چی په مقابل کی دځینو جهادی تنظیمونو دمشرانو له خوا درتسکوی غوښتنه رد او ورته په ډاګه کړای شوه چی دافغانستان دقضیی دحل دمسایلو په لړ کی دبندیانو مسله ډیره کوچنی

> **دبندیانو تبادله د دقضیی دحل ډیره وړه برخه ده چی دقضیی دحل په بهیر کی کومه دکتنی وړاغیزه هم نه بریښی**

او وروستی خبره ده لومړی باید دافغانستان دقضیی په اړوند مهم مسایل حل کړای شی اوبیا تر هغه پوری چی دمجاهدینو دزرګونو بندیانو سرنوشت نه وی معلوم شوی څنګه کیدای شی چی مجاهدین دروسانو بندیان خوشی کړی لازمه خو داده چی ددواړو خواوو بندیان یو ځای خوشی کړای شی .

ویل کیږی چی دلیدنو کتنو په ترځ کی دهغی ژمنی له مخی چی دمجاهدینوهیئت تیره میاشت په مسکو کی له روسانو سره کړی وه ، یو تن روسی بندی چی باباقل نومیده (مجاهدینو پری اوس حبیب الله نومی ایښی) اوحضرت صاحب دتنظیم له یو قوماندان سره ؤ له بنده ازاد او روتسکوی ته وسپارل شو .

دخپرو شویو خبرونو له مخی روتسکوی دتیری یکشنبی په ورځ له اسلام اباد نه کابل

په ۷ مخ کي

دنور په لور

زه ولی مسلمان شوم؟

ابوهارون

ویلیم بشیر پکارد«انګلیسی» :

ویلیم برشل بشیر پکارد دلندن استوګن او دیوه شاعر –ناول نګار اولیکوال په نامه پوره شهرت لری ، داثاروله جملی څخه یی «لیلی ومجنون »«دالقاسم سفر »او«نوی دنیا »له خاص ارځښت څخه برخمن دی .

***

دحضرت محمد(ص) مشهور حدیث دی چی «هرماشوم داسلام په فطرت زیږی ، اوبیا دادهغه موراو پلار وی چی دی یاعیسوی یایهو دی اویا . . .ګرځوی» .

دهمدغه رښیتنی قول په بنا زه هم مسلمان زیږیدلی وم ، خوله دی حقیقت څخه ډیر کلونه وروسته خبر شوم .

په ښوونځی اودارلمعلیمن کی زما ټوله توجه او پام خپلو درسونوته ؤ،له دی نه علاوه زما هیله یوازی ترښو خوراکونو او ښو جامو اغستلو پوری محدوده وه ، زه دغیر معمولی ذهینو زده کوونکو له ډلی نه ، نه وم خولوړی ارزوګانی می بیا په سینه کی هر وخت ژوندی وی ، دعیسوی دین چی کوم معیار دی دهمغه سره سم ما دخدای (ج)او عبادت سره اړیکی درلودی ، اوماته هغه وخت دخدای (ج)تصور او عبادت ښه ایسیدل . له دینه پرته ما په انسانی خصلتونو کی دجرئت او شرافت لمانځنه کوله ، د«کیمبرج» له پو هنتونه څخه تر فراغت وروسته زه درسمی دندی په اړه دافریقا یوه هیواد «یوګندا »ته ولاړم ، هلته می دانسانی ژوندانه ځنی په زړه پوری او عجیب مثالونه ولیدل ، مالیدل سره له دی چی دغه خلك تور پوستی وو خوزړونه یی له مینی اوانسانی همدردی څخه ډك وو ، دهغوی ژوند ډیر ساده و خوبیاله خوښیو او سرورنه ډك و ، دغه خلك مسلمانان وو اومالومړی ځل له اسلام سره تعارف حاصل کړ .

په یوګندا کی زما دیوازی توب ملګری «الف لیله » کتاب و، دامی پخوا په کیمبرج کی هم لوستی ؤ ، دهمدی اثر مطالعی زه دختیځو ټولنو دژوندانه له عادتونو او اقدارو سره اشناکړم او له هغوی سره می په زړه کی مینی ځای نیولی ؤ . په یوګندا کی په استوګنی سره زما په زړه دمینی اثر لا ژور او دایمی شو .

په ۱۹۱٤ م کی لومړی نړیواله جګړه پیل شوه څکه خوزه بیرته خپل هیواد ته ستون شوم ، دلته چی راغلم سخت بیمار شوم کله چی روغ شوم نو په پوځ کی می دداخلیدو عرض پاڼه ورکړه خو دکمزوری په وجه ونه منل شوم . ماخپله حوصله ماته نه کړه او یوه رضا کار ګروپ سره ملګری شوم ، چی بیا وروسته زه یو منظم پوځی جوړ شوم او په جګړه کی می ګډون وکړ .

په لویدیځ محاذ کی دفرانسی په سومی نومی ځای کی وجنګیدم چی ټپی شوم اوبیا ددښمن په لاس کی ولویدم ، زه یی جرمنی ته یووړم او هلته می پرانسانانو دظلم اوزور ټولی ننداری په خپلو سترګو ولیدلی ، په خاص ډول به زما هغه روسی بندیان هیڅکله هیر نشی چی اسهال به شول اوبیا به دسپی په مرګ مړه کیدل . زما ښی مټ ډیر شدید ټپی او نږدی له کاره لویدلی و ، څکه خوزه په شفاخانه کی پاتی وم وروسته یی زه دسویس یوی شفاخانی ته نقل کړم.

دمریضی ستونزی اوپردیسی په دغه حالت کی ماته زیاتره وخت قران راپه یادیده ، زما دذهن پر پرده به زیاتره د«الف لیله » یوه ننداره راژوندی شوه کوم چی یو ناڅاپی افت ښارپه غیږه کی راونغاړی خو یو ځوان له دنیا اوټولو افتونو نه یی بی نیازه یو ځای ناست وی اودقران په تلاوت کی داسی ورك وی چی دښار دورانیدو اوتباهی نه هیڅ خبرنه وی اونه دغه تباهی او ورانی په ده څه اثر لری ،نوڅکه می له جرمنی نه کور ته لیك واستاوه ، اودsale دقران ترجمه می راوغوسته‌ له وروسته بیا زه خبر شوم چی رااستولی یی وه خو ماته راونه رسیدله ، په سویزرلیند کی زما دمټ اوپښی عملیات وشول ، زما صحت ښه شو او ورو ورو دګرځیدو راګرځیدو وړشوم ، بیا می دساواری «savary» دقران فرانسوی ژباړه هدیه کړه « چی اوس هم راسره شته او تر ځانه راباندی ګران دي» زه اوس ددی اټکل نه شم کولی اونشم ښولی چی قران ماته څومره ستری خوښی او ډاډ راکړ. داسی راته ښکاره شوه چی دابدی رښتینولی دوړانګو نه کومه یوه له خپل ټول برکت سره زما په زړه ننوتلی ده چی یخه رڼایی زما دروح ګوټونو ته ننوته .

اوس می په زړه کی دقران دلیکلو هیله راګرمه شوه ، ښی لاس می تراوسه له کاره لویدلی ؤ نو څکه می په چپ لاس دلیکلو تمرین پیل کړ ، دقران دالفاظو په لیکلو می په زړه کی همغسی خوښی او ډاډ حس کاوه لکه کوم ماشوم چی نوی په لیکنه لاس پوری کوی او دکوم حرف په لیکلو خوښی محسوسوی رښتیا

په ۴ مخ کي

جنګونه او ...

شوی هوګډی وډی :
په دی سیمه پدی کلیو اوپه
دی کورونو کی اوس دخوښی
او خوشحالی ځای ویر او
ماتم نیولی ؤ دلته دخوښی
سترګی پټی وی ، لکه چی
کلونه هم دی خلکو خوښی نه
وی لیدلی نن دلته ویرونه ؤ او
سبا هلته ! په هر کلی او هر
کور اورونه بلیدل دهر کوره
شنی لوخړی پورته کیدی
ګولی وریدی اووینی تویدی .
شپه او ورځ به دبی ګناه
وینو په سرنوری وینی تویدی
اوښکی به پری څڅیدی دورځو
اوشپو ژړاګانو دغه وینی هم
همغی بیدیا ته ویستلی .
خو په لږ وخت کی ددغو
وینونه دویاړ تیغونه راززغون
شول داسی چی څپی څپی
شول اوسرونه یی داسمان
سره ولګیدل ، هو داتیغونه
دویاړتیغونه نه دمړاوی کیدو
دی ، اونه دسوځیدو اوس که
پری هر څومره اورونه او
بمونه واوری همغسی به تر او
تازه وی لکه دبهار ګلونه !
ځوانانو چی مټی راونغښتی
غلیم په ګونډو شو په هر کلی
او هره دښته کی .
ټول وطن جنګونواوننګونو په
سر واخیست ، ښکلی وطن د
خوښیو او خوشحالیو او
نیکمرغیو وطن ویرونو اورونو
اوویاړونو په سر واخیست
اوس بله خبره نه وه په هره
ژبه دجنګونو ، ننګونو ،
ویاړونو ، ویرونو او اورونو
کیسی وی هو دهمدغو میړنیو
افغانانو دجنګونو ، ننګونو
ویاړونو ، ویرونو او اورونو
کیسی دجنګونو او ننګونو ؟!!

دنجیب مزدور رژیم دباقي پاتي کیدو علت ...

تخریبوی آیا دغه کار دجهاد دښمری لپاره څومره تاوان لری؟
داهغه پوښتنی دی چی افغانی مجاهدین او مهاجرین هر وخت باید په نظر کی ونیسی اوپدی کی سوچ ووهی چی څنگه به لدغه مشکلاتو لپاره دحل لاره پیدا کړای شو.
افغانی مجاهدین چی دجهاد دپیل کیدو په وخت کی تش لاسونه وو هغه وخت دوی داړ اوتسلی یواځی فی سبیل الله جهاد او اعلای کلمة الله وه او مضبوط ایمان، ټینگه عقیده او توکل علی الله وو اوس چی ددنیا راز راز وسلی او مهمات یی پلاس کی دی بیا نامطمئین اوپریشان غوندی ښکاری خوبیا هم دا داړ او اطمینان شته که چیرته افغانی مجاهدین پخپلو منځونو کی اتفاق او اتحاد وکړی اودالله تعالی دحکم سره سم کانهم بنیان مرصوص اوهمدارنگه داشدا علی الکفار رحماء بینهم مصداق شی نو دلا تقنطوامن رحمة الله فرمودی په بنا امید شته چی دافغان مجاهدین د آخری بری او کامیابی هم په نصیب شی څکه چی ان الدین عندالله الاسلام دالله تعالی فرمان اودا غوره دین به تل کامیاب وی خو خدای تعالی دی په افغانستان کی دهمدی افغانی مجاهدینو پلاس کامیاب کړی او داهلته کیږی چی افغانی مجاهدین دگوندی او تنظیمی چوکاټونو نه راووځی اوداسلام دواحد بیرغ لاندی بی له تنظیمی، قومی، سمتی، لسانی او نوروتبعیضونواوتوپیرونو څخه داسلامی شریعت دقیام لپاره لار هواره کړی اودافغانستان دمسلمان ملت دژوند، آبرو، عزت، ناموس، مال اوسر خوندی ساتلو اوداسلامی امنیت دتامین په غرض کار وکړی اودافغانستان فتحه کیدو او دټولو مهاجرینو او مجاهدینو لپاره افغانستان ته دبیرته تلو داسی لاره هواره کړی چی مخکی له مخکی باید مضبوط اوقوی حکومت په صمیمیت او ایمانداری سره په اتفاق او اتحاد داسلامی شریعت دهدایاتو او احکامو سره سم جوړ کړی اوخپل دغه سپیڅلی او مقدس جهاد ته دهمدی اسلامی حکومت دقوماندی او فرمان لاندی دوام ورکړی او کله چی افغانستان دالله تعالی په فضل او رحم سره فتحه شو همدغه حکومت پکی حکم فرما شی او دالله تعالی دخوږو نعمتونو خوند دشهیدانو په وارثانو باندی وڅکی دکوم نعمت لپاره چی افغانی شهیدانو خپل خوږ ژوند دلاسه ورکړی دی، اوبیو اسلامی افغانستان په دنیا کی لکه دلمر غوندی روښان وځلیږی، اودغه استعماری او استکباری قوتونو ته ماتی ورکړی اوپه نړی کی داسلامی دین عظمت لکه څنگه چی ثابت دی اودټول بشر لپاره دنیکمرغی تضمین کوی دغه سپیڅلی تاریخ دافغانستان دمجاهدینو دقربانیو په برکت دافغانی مجاهدینو دسنگرونو څخه ټولی دنیا ته خپور شی، دا خو واقعیت دی که ټول افغانی مجاهدین ددغه تنظیمی تعصباتو څخه په څنگ شول نو افغانستان لاڅه چی ټوله نړی کی به داسلام دین خپور اوومنلی شی څکه چی افغانی مجاهدینو دا ثابته کړه چی نن په دنیا کی سپر طاقت یواځی اویواځی داسلام طاقت دی اوبس نور طاقتونه دی سره هیڅ مقابله نه شی کولی لکه چی اوس ټولی دنیا ولیدل چی دافغانی مجاهدینو دجهاد په برکت دکمونستانو اتیا کلن قوت مات او ټوټی ټوټی شو، دلینن تصویرونه په اور وسوزول شول او خلکو ترینه کرکه او بیزاری اعلان کړه، دبرلین دیوال دمنځه لاړ دروسانو استعماری قوت محوه شو کوم ملکونه چی روسانو په زور ظلم سره نیولی وو خپله ازادی یی اعلان کړه او په آینده کی هم روسانو ته خوراډیره سخته ویره شته دی چی بلکل به محوه اوله منځه لاړشی داټول دافغانی مجاهدینو دجهاد برکت دی هیله ده چی افغانی مجاهدین سره یو موټی شی اوس هم وخت شته دی اودغه طلایئ فرصت دلاسه څخه ونه باسی اوکه نه نو ددغه دیارلس کلن جهاد اودشهیدانو دوینو توېولو اودیتیمانو بی وزلو مظلومانو په دښتو او میرو کی پرتو مهاجرینو اوپه غرونو رغونو کی مجاهدینو او زخمیانو او جلاوطنو افغانانو اودروسانو او دمزدور رژیم لخواپدوی باندی دبمونو ورولو او افغانستان دخرابیدو مسولیت به ټول دهغه چا په غاړه وی چی داتفاق اواتحاد نه تښتی اودخپلو مادی اوشخصی گټو او ذاتی اقتدار دساتلو په غرض نفاق او شقاق خوښوی.
وما علینا الاالبلاغ

دیوه ماښام کیسه چی ماښامونه تری ...

خونړی ډرامی له یوه لوبغاړی سره ولیدل، مادده له کیسو او یاد داشتونو څخه دهغو دحیرانوونکو عملیاتو جریان په خپل ذهن کی محفوظ کړل هغه ماته دغه کیسی وروسته له دی چی پرماښه اعتمادی شووکړی او له مانه یی داتعهد هم واخیست چی ولس ته یی باید ونه رسوم.
ددغه کیسی اصلی څیره چی هغه وخت دکا جی، بی په سازمان کی یوتورن ؤ او نوم یی «ایم، ای» دی خپله کیسه داسی وکړه وایی وری:
«موږ افغانستان ته دتاکل شوی ورځی نه دوی اونی مخکی ورسیدو زموږ په خاص گروپ کی ټول دوه ویشت «۲۲» تنه ؤ او یوتورن یی قوماندان ؤ چی دکا جی، بی غړی ؤ.
موږ یی له کابل نه بهر نږدی په یوه وړوکی کورکی ایسار کړو دبهر ته وتلو اجازه مو نه درلوده او له شرابو پرته دنور څه څکلو شیان مونه درلودل. موږ ته دخپل پروگرام په اړه هم څه معلومات نه ؤ، یوازی دومره راته ویل شوی وو چی کله د«ایچ» حالت اعلان شی بیا به نویوازی قوماندی ته غوږ ږدی او پر هغی به عمل کوی، اصولاً موږ په دی جریان نه و پوه چی افغانستان ته یی ولی رااستولی وو، څکه زموږ سرو کار له همداسی مسایلو سره ؤ. دڅووختنه وړاندی خبره ده چی یو وخت تره کی له موږ نه دپوځی مشاورینو دورلیږلو غوښتنه وکړه، نو زموږ له گروپ سره یو ځای یو شمیر دکا، جی، بی غړی ور واستول شول، په هر عیر معمولی خبری سوال پیدانه شی، دعامو خلکو دغولولو لپاره هم لازم وو چی له دی چل نه مو استفاده کړی وای تر څو وضعه عادی ښکاره شی، دحفیظ الله امین قصر ته چی کوم سړک تللی و دهغی نقشه داسی وه

> په روسیه کي دننه «پراودا» اخبار په افغانستان کي له هر ډول لاسوهني څخه انکار وکړ اوخلکو ته یي داباور ورکاوه چي دشوروي حکومت به هیڅکله هم فوځي مداخله ونکړي ارموږهدي اړه ډیري اعلامیي نشرهم کړي

صورت موږ ته د«ایچ» حالت اعلان شو او قوماندی ته منتظر تیارسی شوو. دقوماندی حکم ولوستل شو په هغی کی لیکل شوی وو چی حفیظ الله امین دسی آی ای غړی اود سرمایه داری کلك پلوی دی له دی نه علاوه هغه دافغان ولس سخت دښمن راته معرفی شو موږ ته دصدارتی محل «تاجبیك مانی» دنیولو امر شوی ؤ ټول په لسوموټرو کی دحفیظ الله امین داستوگنځی په لوری روان شوو پر موټرو دافغانی پوځ نښانونه او ټاپی وی، ددغه ټوپانی ډلی قومانده دکا جی بی دیوه افسر پر غاړه وه، موږ دافغانی پوځیانو دریشی اغوستی وی او دصدارتی مانۍ دپوځیانو مخصوص نښانونه او بیرغونه راسره وو ترڅو دصدارتی مانۍ له اصلی ساتونکو سره دڅه چی په یوه وخت کی یوازی یو موټر وربانـدی تیریدای شوای، اومحل ته دننوتو په وخت کی لاره نوره هم تنگه کیدله، اوچی هلته یو موږ دریدلی وای نو شاته کاروان باید ټول دریدلی وای، او همداسی وشول هم.
موږ هغه وخت زیات حیران اوښتوچی دصدارت ساتونکو پر موږ ډزی وکړی زموږ یو موټر یی له کاره وغورځاوه، دادصدارتی مانۍ په مخ کی پیښه وه، په درنو ماشینگڼو پرموږ ډزی پیل شوی موږ له موټرونه کوز شوو او پر مځکه پریوتو، دکاجی بی نوموړی افسر موږ ته بدرد وویل.
«تورن بویارنوو» له یو عجیبی طریقی څخه استفاده وکړه هغه په زوره چیغه کړه چی: دکا جی بی کسان خو مانۍ ته تللی شی، موږ خو ستاسو خلك یو ستاسو دښمنان خو نه یو.
دامین روسی ساتونکی چی داواوریدل ډزی یی بندی کړی، دازموږ دروسی ژبی داستعمال له برکته وشول ورروسته بیا هغه پوځیان موږ ته سلامی شول اوله هر ډول مقاومت نه یی لاس واخیست. دمانۍ دننه واقعاتو په باب زماپه ذهن کی یو تت غوندی تصویر دی، زه په زړه کی ډیر ویریدلی وم څکه په هر حال موږ تـه دوړانـدی تگ حکم شوی ؤ، زه دخپلی روزنی له مخی پر مخ تلم، موږ خیال کاوه چی که له کوټو نه څوك په رضا نه راوتل نو بیا به موږ لاسی بمونه وراچوو، دروازه به ور ماتوو او ضربه ډزی به وربانـدی کوو، داټول ماته دیوه ویروونکی خوب په څیر ښکاریدل خو همدغسی حقیقت اوس موږ تـه ډیر نږدی ؤ، له ډزونه وروسته موږ دننه خانونه ورسول، موږ چی خپل عملیات پیل کړل نو ماته یوه تړلی کوټه په نظر راغله، بیله دی چی وخت ضایع کړم سمدستی می یودانه لاسی بم وروغورځاوه، کله مو چی ټوپانی عملیات پای ته ورسیدل نو دجمهوررئیس «امین» لټه مو پیل کړه دهغه جسد مو په یوه زیر زمینی کی وموند چی دلاسی بم په پارچو بلکل مسخ شوی ؤ، دهغه کوپړی بلکل الوتلی وه، موږ په دی ونه پوهیدو چی امین چا وواژه خو زموږ دپروگرام له مخی دعملیاتو په جریان کی دلاسی بم په پارچو او دضربه ډزو په وجه وژل شوی ؤ، زموږ دوه تنه غړی هم په دغه عملیاتو کی ووژل شول، له هغوی نه یو تورن بوریانوو ؤ چی په مانۍ کی له یوځای نه بل ته دمنډو په جریان کی وژل شوی ؤ موږ تـه ددغه بریالی عملیاتو په وجه مډالونه راکړل شول دا دپنجشنبی ورځی ماښام ددسمبر د ۲۷ می نیټی کیسه وه چی تاسوته می واوروله.

اتحاد شوروی بعد ازاین درجهان وجود نخواهد داشت

مسکو، اژانس فرانس پرس:
۱۱ جمهوریت شوروی که ازادی خویش رااعلان نموده اند، روز گذشته ۳۰ قوس درپایتخت قزاقستان درشهرالماتا معاهده را امضا نمودند که به اساس ان موجودیت کشوری بنام اتحاد جماهیر شوروی درنقشه جهان خاتمه یافت دراجلاس مذکور روی تشکیل اتحادیه کشورهای مشترك المنافع از ۱۱ جمهوریت مذکور بحث صورت گرفت.
همچنان امضا معاهده در مورد تقسیم تسلیحات اتومی برای اینده موکول گردید.
اژانس های خبری جهانی از قول شرکت کننده گان اجلاس الماتا گفته اند که انها گورباچف رامتیقن ساخته اند که درتشکیلات جدید جایی برای رئیس جمهور اتحاد شوروی باقی نمانده است.
ازجانب دیگر بوریس یلتسین رئیس جمهور فدراسیون روسیه گفته است که بخاطر برکناری ابرو مندانه گورباچوف محفلی الوداعی راترتیب خواهند داد وگورباچوف اولین رئیس جمهور شوروی خواهد بود که با احترام کامل از وظیفه اش سبکدوش می گردد، درحالیکه روسای جمهور قبلی یامی مردند ویابه اساس جرایم بزرگ سبکدوش می شدند.

خونړی تیری ، شرمیدلی ماتی..

تولګی اوډلګی یی پخپلو خپلو ځایونو کی دمجاهدینو تر کلابندی لاندی وو او پوره یی ځواکه شوی وو.
داهغه وخت ؤ چی دهیواد په ګوټ ګوټ کی پر ملحد دښمن دمجاهدینو دبری اوازی خپری وی اوله هری خوا ددښمن دماتی خبرونه راتلل اوبالاخره داهغه وخت ؤ چی زموږ مؤمن ملت دخپل اسلامی پاڅون وروستی بری ته سترګی په لار اوپه همدی نن سبا کی پر دښمن باندی دبشپړ بری هیلی او داډ دهر مؤمن افغان په زړه کی ځای نیولی ؤ،چی په همدغو حساسواوسرنوشت ټاکوونکو شیبو کی تربولك زیاتو په هر ډول عصری وسلو او وسیلو سمبالو روسی پوځونو دټولو نړیوالو اصولو او موازینو پرخلاف زموږ پر هیواد وحشیانه یرغل وکړ خپل پخوانی نوکریی له منځه یوړ او دمسکواوتاشکندلراډیو ګانو څخه یی دخپل بل ګوډاګی ببرك (چی دهمدی ورځی لپاره یی ساتلی ؤ) دغلامانه واکمنی اعلان وکړ.
روسانو پر افغانستان باندی دابرېند تیری ددی لپاره وکړ چی له یوی خواپه افغانستان کی دالحاد اوبی دینی پر ضد را پورته شوی اسلامی پاڅون له منځه یوسی اوله بلی خوا به افغانستان هم دمرکزی آسیا داسلامی هیوادونو پهڅیر په خپله استعماری لومه کی راښکیل اوبیا دخپل پخوانی شوم اوناولی آرمان (دهند تودو اوبو) ته درسیدو په لور مخ په وړاندی لاړ شی.
خوداخیال یی هم دنورو په شان ددوی دتوقع خلاف ثابت شو اوددوی بربنډ وسله وال تیری دمؤمنو افغانانو دپاڅون اورته دتیلو کار ورکړ.
څه دپاسه نهه کاله یی پخپل ټول زوراو ځواك داسلامی پاڅون دله منځه وړلو هڅه وکړه خو په دی لار کی هیڅ ډول زور ازموینی ، وسلو او وسیلو پخپل کرغیړن هدف کی ددوی بری تضمین نکړای شو که یی زموږ دمؤمنو خلکو په وړاندی له هر ډول زور ، وحشت،لوټماری او عامه وژنو څخه کار واخیست ، هومره یی په مقابل کی مقاومت له یوی ورځی نه بلی ته پیاوړی اوځواکمن شو اوبالاخره ټولی نړی ولیدل چی هماغه یرغلګر ښکیلاکی ځواك چی تل به یی پخپل قوت او ځواك ویاړکاوه،خپل ځان یی سپر طاقت ګاڼه،خپل وحشی پوځونه اوځواکونه یی ماتی نه خوړونکی اوخپله پوچه الحادی مفکوره یی پر ټوله نړی بریمنه او واکمنه کیدونکی بلله ، دیوتش لاسی خودایمان او عقیدی په وسله سمبال مجاهد ملت له خوا یی شپر ځواکی،صفر ته تنزل وکړ اوپه پوځی ، سیاسی ، اقتصادی او...ډګرونو کی یی داسی له شرمه ډکه ماتی وخوړه چی اوس یی په هیڅ ډول دخپلو خلکو اونړیوالو له نظره نشی پټولی .
په زرګونو پوځیان یی دمؤمنو افغانانو داتلوال مقاومت په نتیجه کی ووژل شول ، په لس ګونو زره یی معیوب اوپه سل ګونو یی دمجاهدینو په لاس ژوندی ونیول شول ، اوبی شمیره جنګی وسلی او وسیلی یی څه له کاره ولویدی اوڅه مجاهدینو په غنیمت ونیولی.
په افغانستان کی دڅه دپاسه ۹ کلونو په موده کی چی روسانو دزورازموینی په هرډګرکی دمؤمنو افغانانو داتلوال مقاومت په وړاندی پاتی راغلل نویی دخپلی تیښتی لپاره دجینوا تړون پلمه کړاوسرماتی اولاس ماتي له افغانستان نه ووتلل.
روسان په فزیکی لحاظ له افغانستان څخه لاړل ، خپلی ټولی وسلی او وسیلی یی خپلو مزدورانو ته په واك کی ورکړی اودالړی یی ترننه جاری وساتله ، خوپه افغانستان کی خوړلی ناسور ټپ یی دښکیلاکی ځواك په ټوټه کیدو او ړنګیدو کی‌یې غبزمن کاروکړ ، دمؤمنوافغانانو دپاڅون دمقاومت نه په الهام اخیستنی سره یی لومړی ترښکیلاکی ولکي لاندی اسلامی اوغیر اسلامی هیوادونو کی اسلامی آوآزادی غوښتنی جذبی او ولولی راپورته شوی ، دروس ښکیلاکی ځواك چی په افغانستان کی عملاً له جسمی اوذهنی ماتی سره مخامخ شوی و ، ددغو پاڅونو آراموللو اونور پخپلی استعماری ولکه کی ددغو هیوادونو په ساتلوکې‌له یوی ورځي نه بلی ته بی واکه اوبی ځواکه شو ، او بلاخره دادی اوس چی موږ سږکال په افغانستان باندی دروسانو دوحشیانه یرغل کلیزه غندو هغه وخت رارسیدلی چی دروسي لویه امپراطوری (ونګه) اوشوروی اتحاد نوم دنړی‌له نقشی نه محوه شوي دی ، زیات شمیرهیوادونو چی ترپرونه دوی جبراً په استعماری لومه کی راښکیل کړی وو،نن یو ځل بیا دخپلواکوهیوادونو په توګه رامنځ ته اوپه رسمیت وپیژندل شول.

>>>>>>>>>>>>>>>>>>>>>>>>>

روسان دخپلو بندیانو خلاصول غواړی ...

ته سفر وکړ .

تولی هلی ځلی یی یوازی او

> روسان دافغانستان دقضیی دحل په اړه ریښتونی نه ښکاری بلکه تولی هلی ځلی یی یوازی او یوازی دخپلو بندیانو دخلاصون لپاره دي اوبس

دیادونی وړده لکه چی دمخه هم روسیی ته دمجاهدینو دهیئت دسفر په وخت اوبیا وروسته دګڼو اعلامیی ترخپریدو وروسته څخه داسی نظرونه اوڅرګندونی هم موجودی وی چی روسان دافغانستان دقضیی دحل په اړه ریښتونی نه ښکاری بلکه

یوازی دخپلو بندیانو دخلاصون لپاره دی اواوس خو دروسیی دلوړ رتبه مامور دی وروستی سفر له مجاهدیو سره دلیدنو کتنو او څرګندونو داخبره بالکل په ډاګه کړه نوموړی پرته له دی چی په خبرو کی یی

دافغانستان دقضیی دحل په اړه څه انکشاف ولیدل شی ، یوازی او یوازی دخپلو بندیانو دخلاصون فکر ورسره و او داسی یی څرګندوله چی ګواکی مجاهدین نه غواړی دافغانستان قضیه حل او

> دلیدنو کتنو په دوران کی پرته له دی چی دافغانستان دقضیی دحل په اړه خپل رښتینتوب ثابت کړی ، دروسی بندیانو دخلاصون غوښتنه یی کوله

فصل کړی ، ددوی (روسانو) په نظر دافغانستان دقضیی

حل فقط دروسی بندیانو خلاصول دی حال داچی دبندیانو تبادله د دقضیی دحل ډیره وړه برخه ده چی دقضیی دحل په بهیر کی کومه دکتنی وړاغیزه هم نه بریښی نودافغانستان

دقضیی دحل وړپوری منحصر،ل دوکه اوځایه خبره ده .

په جارجیا کي پوځ په پاڅون لاس پوري کړ

مسکو ،دجدي ۲مه :
دخپرېو شویو خبرونو له مخي ویل شوي دي چي په روسي جارجیا کي دپوځ یوي برخي ددغه جمهوریت دمخالف ګوند سره لاس اوسلا یوه کړي اوددولت په مقابل کي یي پاڅون کړي دي ، په خبرونو کي ویل شوي دي چي دجارجیا مرکز تبلیسي اوس په یوه کورني جګړي کي راګښیل شوي اوددغه هیواد جمهوررئیس "ګماساخر"په یوه دولتي خونه کي پناه اخیستي بلي خواته ددولت مخالفینو دپارلمان په عمارت اوپه هوایي ډګر قبضه کړي ده ، اوددغو ځایونو څخه ددرنو توپونو په ډزو سره په صدراتي ماڼي بریدونه کوي دامریکا غږ راډیودخبرله مخي په زیاتو برخو کي دحکومت مخالفو پوځونوترمنځ خونړي نښتي رواني دي چي تراوسه پوري پکي ۱۷ تنه مړه اوبي شمیره ټپیان شوي دي .
بل لوري ته په ماسکو کي ګورباچوف په یوه تلویزیوني مرکه کي ویلي دي چي زه به دمشترك المنافع اداري دسیاسي اصلاحاتو ملاتړوکړم.
په الماتاکي دیوولسو جمهوریتونو لخوا دمشترك المنافع اداري له جوړولو څخه وروسته دادګورباچوف لومړي مرکه ده چي پکي یي زیاته کړي ده زه به هیڅکله هم خپل هیواد پري نږدم حال داچي ماته دنړي دډیرو هیوادو له خوا دسیاسي پناه اخیستلو بلني راکړي شوي خومادا پریکړه کړي ده چي زه به له سیاست څخه لاس وانه خلم ، اوهمدلته به خپلو سیاسي فعالیتونو ته ادامه ورکوم.

له روسانو سره د...

چرت کی دی .
زه په یقین سره ویلای شم
چې دجهادی ځواکونو په
سلو کی اتیا برخی دروسانو
سره دسیاسی روغو جوړو
مخالف دی .

حمله موفقانه مجاهدین فلسطینی بر مرکز ارتش اسرائیل

بیت المقدس ۲۱ قوس :
مجاهدین فلسطینی مربوط سازمان انتفاضه بریك مرکز ارتش اسرآئیل واقع در کناره غربی رود اردن حمله نموده عده زیادی از افراد ارتش اسرائیل راهلاك وزخمی نمودند .
ګرچه یك نطاق نظامی اسرائیل حمله مذکور را تائید نموده ولی از تلفات وارده چیزی نګفته است.
خبر می افزاید نظامیان اسرائیلی بعد ازحمله نظام حالات اضطراری رادرشهر نافذ نموده وعده زیادی از مردم محلی را ګرفتار نمودند .

>>>>>>

دکرغرستان یو وزیر په غلا ونیول شو

هامبورك ، پاکستان ورځپانه :
دالمان څخه دخپریدونکی یوی ورځپانی دخبرله مخی ویل شوی دی چی دمنځنی آسیا دکرغزستان دجمهوریت دتجارت وزیر هغه وخت په غلا ونیول شوچی په هامبورګ کی یی دیوی مغازی څخه دیوه کمیس غلا کوله خبر ځای زیاتوی وزیر هغه وخت دمغازی مسوول ونیوه څه وخت چی ده په یوه پلاستیکی کڅوړه کی بند کمیس غلا کاوه. دکمیس قیمت څلویښت مارکه و چی ټول تری ۲۵ دالره جوړیږی په خبر کی زیاته شوی وزیر تر دوو ساعتونه وروسته په ضمانت خوشی کړای شو.

خونین ترین جنگ وابرومند...

افغانهاي مسلمان بزودی با دست خالی با سلاح الله اکبر در برابر بیش از یکصد وپنجاه هزار عسکر تابه دندان مسلح روسی وکمونستی کابل به مصاف رفتند ان روزهای سخت وتاریخی راهیچ افغان مسلمان از یاد نخواهد برد انګاه هیچ مورخی وهیچ دانشمندی بر پایداری افغانها باورنداشت وانرا اخرین مقاومت بحساب اوردند .
افغانهای مسلمان وبا شهامت باقبول قربانی های فراوان وبیشمار این سیل سرخ وحشتناك ودهشتناك راتوقف دادند وجهان باین واقعیت هنوزهم باور نداشت .
داشت انچه برای جهانیان خواب وخیال محسوب می شد به حقیقت مبدل می شد اردوی سرخ اتحاد شوروی که فاتح جنگ دوم جهانی ۱۹٤٥- ۱۹۳۹ بود و از رزمنده ترین وشکست ناپذیر ترین اردو در جهان بحساب می امد در جنګیدن باانهای که باتنه های خشکیده اما با ایمان بزرگ چون کوه به میدان پیکار امده بودند سستی و وسوسه نشان دادند وجهان هنوز هم باین واقعیت باور نداشت .
اماموج عظیم شهادت و شتافتن بادل نوقمند بسوی شهادت افغانها توانست اژدهای خونین وسرخ را به عقب نشینی مجبور سازد واین سر اغاز افول ستاره سرخ امپراطوری کمونستی اتحاد شوروی گردید بعد از ان بزودی ان دندانهاو چنگال کمونیزم که باان بجان مردم مسلمان ما حمله نموده بود بزمین افتاد .
ابر قدرت روس درجنگ ومقابله نظامی بایك ملت فقیر اما با ایمان شکست خوردو ناگزیر گردید قوای متجاوز خویش را قبل از انکه بکلی مضمحل گردد از افغانستان خارج نماید شکست نظامی رزیم وحشت وبربریت کمونستی اتحاد شوروی درافغانستان ثابت ساخت که رژیم مذکور که مورد لعن ونفرت مردم خویش نیز بود سخت پوشیده گردیده وضربه جهاد مردم افغانستان توانسته است انرا بزانو در اورد .
یاداوری مختصر حوادث فوق از جهتی بود که امروزرژیم متجاوز کمونستی روسیه از برکت جهاد برحق ملت مسلمان افغان از صفحه هستی محوه شده اما ملت افغان همچنان چونن صخره پا برجاست. پیروزی مردم ما که منتج به تجزیه اتحاد شوروی کمونستی گردید بحیث حادثه بزرگ تاریخ درج خواهد بود واین افتخاریکه درشکست وزوال امپراطوری انگلیس ها در قرن نزده نصیب افغانها گردید اینبار نیز درشکست امپراطوری خونین روسها نصب ملت افغان گردیده است ولی حرف دراینجاست که خود ما با وجود شکست دشمن نتوانستیم به حق طبیعی خویش دست یابیم.
خلاصه تجاوز وحشتبار روسها برافغانستان وپیروزی مردم ما یکبار دیگر این تجربه رابه اثبات رسانید ملت ایکه با سلاح ایمان و اتحاد به ستیز نیرومندترین قدرت های طاغوتی جهان میرود فایض برخواهد گشت اما کار شان وپیکار شان درهمین جا بپایان نمیرسد.



دهیواد په تودومورچلو کی

کندهار

دمیډیا دکوټی نمایندگی رپوټ ورکوی چی مجاهدینو دکندهار لشکرگاه په لویه لاره دمیوند ولسوالی پر پوستو دقوس په ۲٤ مه برید وکړ ، په نتیجه کی یی یوه پو سته فتحه یو شمیر نظامی افراد یی اسیران کړل او هم یو شمیر سپکه او درنده وسله یی په غنیمت ونیوله .

همدارنگه دکندهار څخه دیوه بل رپوټ له مخی دکندهار دهوایی ډگر دجنوبی کمربند څخه دقوس په ۲٥ مه نیته یو صاحب منصب او ۹ تنه عسکر مجاهدینو ته تسلیم شول .

دی عسکرو اته میله کلاشینکوف ، یو هاوان توپ ، یوه پی کاماشیندار ، یو ار پی ، جی هفت راکت ، یوه پایه مخابره دیومقدار مهماتو او لوژستیکی موادو سره مجاهدینو ته تسلیم کړی.

لوگر

دمیډیا درپوټ له مخی مجاهدینو ددرنو وسلوڅخه په استفادی سره ددشت بابوس دسیمی پر پوستو برید وکړ ، چی په نتیجه کی درژیم یو شمیر ځالی ویجاړی پنځه تنه عسکر او ملیشه مړه ، او یو شمیر نور ټپیان شوی ، مجاهدینو یو میل هاوان شپږ میله کلاشینکوفه ، دیوی اندازی مهماتو سره په ولجه ونیول .

همدارنگه دقوماندانانو شورا سیاسی دفتر رپوټ ورکوی چی ددی ولایت مجاهدینو دعینك دمسو دکان یوه ستراتیژیکه پوسته فتح کړی او ٥ تنه وسله وال عسکر یی ژوندی نیولی دی.

فراه :

دفراه څخه میډیا رپوټ څرگندوی چی مجاهدینو ددی ولایت دشینډنډ په ولسوالی کی درژیم پریوه نظامی کاروان برید وکړ ، چی په نتیجه کی درژیم دوه عرادی ټانکونه او یو دمخابری ځیپ سو ځیدلی ، او یوه عراده پو ځی لاری ولجه شوی .

هرات :

په کویټه کی دمیډیا نمایندگی رپوټ ورکوی چی مجاهدینو ددرنو وسلو په ډزو سره دهرات ولایت په هوایی ډگر کی ناستی درژیم دوه جیټ الوتکی سوځیدلی ، او کارکونکی یی له مینځه تللی .

دبل رپوټ له مخی دهرات په زنده جان ولسوالی کی مجاهدینو دیو لړ عملیاتو په ترځ کی وکولای شول چی درژیم «۲۰» تنه عسکر او ملیشه له مینځه یوسی ، اودهغوی ٥ عرادی ټانکونه وسوځوی .

دهمدی منبع په یوه رپوټ کی راځی چی دهرات مجاهدینو دهرات اسلام قلعه په لویه لاره درژیم یو نظامی قرارگاه فتح کړه ، درژیم ۳٥ تنه عسکر او ملیشه یی وژلی ، ۳٥ میله کلاشینکوف ، څلور میله څلویښت ډزی ، څلور میله پی کا ماشینداری او یو مقدار لوژستیکی مواد او مهمات ولجه کړی دی

زدخورد شدید بین ملیشه های رژیم در سمنگان

سمنگان ،۲٦ قوس

به اساس راپور دفتر سیاسی شورای قوماندانان برخورد های شدیدی که بین ملیشه های رشیددوستم وافراد سیدکیان ازجمعه گذشته ۲۲قوس سربرتقسیم اموال غارت شده مردم درشهر ایبك مرکز ولایت سمنگان آغاز گردیده بهمان شدت تاکنون ادامه دارد .

وتعدادی از افراد طرفین به قتل رسیده است .

بقرار گزارش ، تلاش حکومت کابل در فرونشاندن این برخوردهابی اثر بوده و عبدالصمد والیِ سمنگان که متهم است جانب کیانی هارا درین حادثه گرفته است بادوتن ازنگهبانانش از سوی ملیشه های دوستم دستگیر وموتر وی به اتش کشیده شده است .

گزارش می افزاید ، طی این برخورد های مسلحانه که از چندین روز بدینسو ادامه دارد عده ازملیشه های کیانی ازسمنگان فرار نموده ورئیس خاد ولایت نیز بکابل گریخته است .

درگزارش امده است درحال حاضر شهر ایبك ازطرف افراد رشیددوستم اداره وکنترول شده وجنگ بین افراد ملیشه های متخاصم دراطراف شهر ادامه دارد .

بگزارش منبع ، خسارات وتلفات بر جانبین سنگین است امانسبت تداوم سلسله برخورد ها شماردقیق تلفات واندازه خسارات وارده تاکنون مواصلت نکرده است .

دافغانستان اسلامی اتحاد اود«مولوی صاحب «خالص »اسلامی حزب دیوی گډی اعلامیی په ترڅ کی :

دیوی پنځه سوه کسیزی مقتدری شوری دجوړیدو غوښتنه وکړه

البنیان خبری اژانس ، دقوس ۳۰مه :

دافغانستان داسلامی اتحاد اودافغانستان داسلامی حزب په هغه غونډه کی چی دجمعی په ورځ دقوس په ۲۹مه په افغانستان کی دننه جوړه شوی وه ، په کومی کی چی ددواړو تنظیمونو مشرانو اود اجرائیه شوراغړو اویو شمیر قوماندانانو اوعلماوو گډون درلود ، خپل مشترك دریځ او طرحه داسی وړاندی کړه :

۱- ددی په ځای چی یولس کسیز مجلس په اسلام اباد کی ناست اودافغانستان دسرنوشت په باب تصمیم نیسی ډیر ژر دی لږ تر لږه پنځه سوه کسیزه شوری چی په سلو کی پنځوس دجهاد له قوماندانانو څخه تشکیل شوی وی جوړه شی ، ترڅو چی دافغانستان دراتلونکی په باب فیصله وکړی .

۲- دواړو تنظیمونو پریکړه وکړه چی جهادی عملیات دی په هیواد کی دننه تر یوی قوماندی لاندی ترپخوا نه لازیات منظم،گرم او گړندی شی .

۳- دوی به په افغانستان کی دپردیو په خوښه اوفشار جوړ شوی حکومتونه نه منی .

٤- ترڅو پوری چی دمجاهدینو په لاس سوچه اسلامی حکومت نه وی جوړ شوی خپل وسله وال جهاد ته به ادامه ورکوی .

٥- ددغو فیصلو دتعقیب اوتنفیذ لپاره په دغی غونډی کی بیلابیل کمیسیونونه وټاکل شول .

برخه والو دغونډی په پای کی هیله ښکاره کړه چی ټول یا اکثره علما اومخلص قوماندانان اومجاهدین به دجهاد اصالت دساتنی اودهغه داهدافو دسلامتیا پخاطر ددی پریکړی ملاتړ کوی اودجهاد دنتائجو اوثمرو دلاس ته راوړلو په منظور به خپل غږ،لاس او زړه له موږ سره یو کوی .

هغوی وویل : موږ له خپل دغه دریځ نه کوم خاص مادی مطلب نه لرو ، بلکی ټولی هڅی مو دالله (ج) دنوم داوچتیدو اودهغه درضا دحاصلولو پخاطر دی .

په ټول شوروی کی (۹۰) هوایی ډگرونه له کاره غورځیدلی

مسکو ، دجدی لومړی :

دشوروی دتلویزیون دیوه خپاره شوی رپوټ له مخی ویل کیږی چی په شوروی کی دتیلواو نفتو ډیر زیات کموالی راغلی ، او له همدی امله په ټول شوروی کی تقریباً ۹۰ هوایی ډگرونه له کاره غورځیدلی دی ،تلویزیون زیاته کړی ده چی په قزاقستان ، شمال کاوکاس ، او یوکراین کی ډیر خراب حالت روان دی . او په مسکو کی یوازی دلسو ورځو لپاره نفتی مواد شته .

دروسیی تلویزیون ویلی دی چی په ډیرو هوایی ډگرونو کی یوازی دسون دومره مواد شته چی الوتکی له یوه هوایی ډگر څخه بل هوایی ډگرته لنډی الوتنی وکړی .

پاکستان ٥ جمهوری اسیایی میانه و فدراسیون روسیه را برسمیت شناخت

لاهور ، اژانس خبری پاکستان :

به اساس اعلان مقامات بلند پایه وزارت خارجه پاکستان حکومت ان کشور ٥ جمهوریت اسیای میانه قزاقستان ، ازبکستان تاجکستان ، ترکمنستان و قرغزستان وهمچنان جمهوری فدراسیون روسیه را برسمیت شناخته است .

در اعلان مذکور گفته شده است که حکومت پاکستان روسای جمهور ، جمهوریت های مذکور را دعوت نموده تا ازپاکستان دیدار بعمل اورده وروی یك سلسله مسایل مهم ملی ومنطقوی مذاکره نمایند .

قابل یاداوریست که پاکستان ازادی کشور ازربائیجان راقبلاً برسمیت شناخته بود.

عملیات موفقانه مجاهدین درولسوالی زنده جان هرات

هرات ، ۳۰ قوس :

به اساس گزارش اژانس خبری البنیان از ولسوالی زنده جان ولایت هرات دراثر عملیات موفقانه مجاهدین که در نیمه هفته گذشته بالای پوسته های امنیتی دولت درولسوالی مذکور صورت گرفت قوماندان مولوی پور یکی از قوماندان مشهور کندك سرحدی ملیشه گلران با ۲۰۰ تن از ملیشه وفامیل های شان تسلیم مجاهدین گردیدند واسلحه ذیل رابه مجاهدین تسلیم کردند.

۱- ۲٥۰ میل کلاشینکوف
۲- ٦ میل گرینوف
۳- یك پایه زیکویك
٤- یك موتر زیو عسکری

په مسکو کی ۳٥ میلیونه دولتی کار کوونکی پدی میاشت کی تنخواه نلری

مسکو ، دقوس ۳۰ مه :

دشوروی دمرکزی دولتی بانك دسرمایی ترختمیدو وروسته به پدی میاشت کی دماسکو ۳٥ میلیونه دولتی کار کوونکی له خپل میاشتنی معاش څخه بی برخی پاتی وی .

په مسکو او نورو جمهوریتونو کی دخوراکی موادو قلت اودمعاش دنشتوالی له امله په خلکو کی دتشویش اوپریشانی یوه څپه خپره شوی ده ، دمسکو واکداران پدی اندیښنه کی دی چی لوږی او قحطی وهلی ولسی خلك کیدای شی په چور او چپاول لاس پوری کړی ځکه ددولت له لوری دهیڅ ډول مرستی امید نشته ، پداسی حال کی چی دولتی لوړ رتبه کسان په پوښلو الفاظو کی خلکو ته دامریکی او اروپا دمرستی دراتلو خبری کوی .

په دوکانونو اودډودی په پلورنځیو کی غذایی مواد نه پیدا کیږی ، دخلکو اوږده قطارونه له سهاره تر ماښامه دموادو دترلاسه کولو لپاره هغه ولاړوی پدی قطاروکی خلك ولاړ وی کوم چی پیسی ورسره دی .

ولی بیا هم یوزیات شمیر هغه کسان چی پیسی نلری ، دځان لپاره دغذایی موادو له تهیه کولو څخه عاجز دی .

ماوبښئ زه به بیا داسی اشتباه نکوم

سری نگر ، دقوس ۲۹ مه :

دنیول شوی کشمیر څخه خپریدونکی یوی انگریزی اونیزی لیکلی دی چی دکشمیر پخوانی وزیر اعلی فاروق عبدالله دکشمیریانو اوکشمیر په هکله په خپل خیانت اعتراف کړی ، اوویلی دی چی دکشمیر داوسنی وضعی مسولیت زما په غاړه دی . هغه ویلی چی دده دغلط سیاست په نتیجه کی دکشمریانو په مشکلاتو اودردونو کی زیاتوالی راغلی .

اونیزه لیکی ، فاروق عبدالله په نیول شوی جمو کی یوی غونډی ته په وینا کی ویلی دی ، « زه به بیا هغه اشتباهات تکرار نکړم ، ما وبښی »

دغه اونیزه لیکی چی فاروق عبدالله تردی دمخه هم همداسی توبه ایستلی وه اوهمداسی خبری یی کړی وی خو هغه یی هیڅ کله هم عملی نکړی ، فاروق عبدالله په ۱۹۸٦ کال هم دخپلو تیرو اشتباهاتو څخه پښیمانی وښودله او ویی ویل چی لدی وروسته به دی پاك ژوند پیل کړی ، خو یوازی دری ورځی وروسته دده په پاکه لمن کرغیړنه لکه ولگیده ، اوپه کشمیر کی ظلم او وحشت زیات شو .

درواغ ویل هم یو هنر دی

لندن ، دنوای وقت ورځپانه :

دروغ ویل هم یوځانگړی فن دی چی پکی هرڅوك بری نه شی ترلاسه کولی په اروپا کی دنوروغونډو او مقابلو په څیر هرکال په با قاعده ډول سره ددروغو یوه مقابله کیږی چی پکی ځانته د(دروغو پاچا) ټاکی په دغی مقابله کی دنړی ټول هغه درواغجن چی په خلاص مټ دروغ وایی برخه اخلی خو بیا هم دمسابقی قانون داوومی مادی دپریکړی په اساس کار وباری خلکو ، قانون دانانو اوسیاستمدارانو ته په مقابله کی دگډون حق نشته. دغه مقابله چی پکی خاص شوقی دروغجن برخه اخلی هر کال دلندن په دوه ښار(کمبریا) په یوه ماڼۍ ددروغود بی تاجه پاچا (اولدول) په یاد کی ترسره کیږی .

دسنیتن برج خاوندچی پکی ددرواغو مسابقی جوړیږی وویل : چی سږکال ده ځنی نور ایجنټان هم په مقابله کی دبرخی اخیستو نه منع کړی دی .

اخبار لیکی : چی ډاکترجان دیوز دری ځلی دغه مقابله سرپه سر گټلی ده خوتیر کال دغه مقابله ریگ وایت په ډیره اسانی سره وگټله دده په فکرتر ټولو ښه درواغ هغه دی چی دخلکو تخیلات راوپاروی په بی ځایه دروغو ، دعوو او سپینو دروغو کی دځمکی اسمان فرق دی ،

اوس نو که دهرچا ددروغو سره دزړه دخلاصه محبت وی نو داوریدو، ویلواو دلیدلو لپاره دی دلندن ښار کمبیریا ته ولاړ شی کیدای شی داسی دروغ ووایی چی هیڅوك هم پری باور ونکړی اوانعام ترلاسه کړی داهم دلویدیز فرهنگ یو بل سوغات دی ، چی دعلمیت پوهی او رښتینولی پر ځای دروغو ته انعام ورکول کیږی.

دهیت تحریر تر نظر لاندی

مکاتباتی پته

پوسټ بکس (۱۰۳۳)
یونیورسټی ټاون پیښور
ټیلفون : ۸۱۲۸۸۱

کمپوزر: احمد ضیا «ذهین بابری»